# د مالِک عيسىٰ مسيح په حقله د حضرت مرقوس زيرے

## د حضرت يحيىٰ بپتسمه ورکوونکى بيان

۱ (۱) دا د خُدائ پاک د زوئ د عيسىٰ مسيح د زيرى شروع ده، (۲) لکه څنګه چې يشعياه نبى ليکلى دى چې، ”ګوره، زۀ
خپل پيغمبر ستا نه وړاندې لېږم چې ستا مخې ته لاره تياره کړى. (۳) په بيابان کښې د نعرې وهونکى آواز دے چې د مالِک
خُدائ لاره جوړه کړئ او د هغۀ لارې نېغې کړئ.“ (۴) او دغه شان په بيابان کښې بپتسمه ورکوونکے يحيىٰ راغے او دا
بيان يې کولو چې، ”توبه ګار شئ او بپتسمه واخلئ او ستاسو ګناهونه به معاف شى.“ (۵) او د يهوديه د ټول مُلک او د
يروشلم اوسېدونکى هغۀ له بهر راووتل، هغۀ هغوئ له د خپلو ګناهونو په اقرار کولو سره د اُردن د سيند په اوبو بپتسمه
ورکړه. (۶) د يحيىٰ جامې د اوښ د وړى وې او د څرمنې پټى يې د ملا نه تړلې وه او مُلخان او ځنګلى شات يې خوراک
وو. (۷) هغۀ به دا اِعلان کولو چې، ”زما نه پس به هغه څوک راځى چې زما نه ډېر زورَور دے. زۀ د دې جوګه هم نۀ يم
چې ټيټ شم او د هغۀ د پېزار تسمې پرانيزم. (۸) ما خو په اوبو ستاسو بپتسمه وکړه خو هغه به تاسو له په روحُ القُدس
بپتسمه درکوى.“

## د حضرت عيسىٰ بپتسمه او آزمېښت

(۹) هم په هغه ورځو کښې داسې وشول چې د ګليل د ناصرت نه عيسىٰ راغلو او د اُردن د سيند په اوبو کښې يې د يحيىٰ نه
بپتسمه واخسته. (۱۰) څۀ وخت چې هغه د اوبو نه بهر راووتو نو هغۀ آسمانونه پرانستى وليدل او روحُ القُدس د کونترې په
شکل کښې په هغۀ رانازل شو. (۱۱) او د آسمان نه يو آواز راغلو چې، ”تۀ زما محبوب زوئ يې، ستا نه زۀ راضى يم.“ (۱۲)
سمدستى روحُ القُدس هغه بيابان ته په تلو مجبور کړو. (۱۳) او هلته کښې هغه تر څلوېښتو ورځو پورې د اِبليس په لمسون
کښې وآزمائيلے شو. هغه د ځنګلى ځناورو سره وو او فرښتې د هغۀ په خِدمت کښې حاضرې شوې.

## د حضرت عيسىٰ د څلورو ماهيګرو رابلل

(۱۴) نو هرکله چې يحيىٰ ګرفتار شو نو عيسىٰ ګليل ته راغلو او د خُدائ پاک د زيرى بيان يې کولو چې، (۱۵) ”وخت پوره
شو، د خُدائ پاک بادشاهى ستاسو مينځ ته راغلې ده. توبه ګار شئ او په زيرى ايمان راوړئ.“ (۱۶) کله چې عيسىٰ د ګليل
درياب په غاړه ګرځېدو نو هغۀ دوه ورونړه وليدل چې شمعون او د هغۀ ورور اندرياس وو. هغوئ په درياب کښې جال
اچولو ځکه چې هغوئ ماهيګر وُو. (۱۷) عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”ما پسې راځئ او زۀ به تاسو نه آدمګير جوړ کړم.“
(۱۸) او هغوئ سمدستى خپل جالونه پرېښودل او په هغۀ پسې روان شول. (۱۹) کله چې عيسىٰ د دې ځائ نه لږ وړاندې لاړو
نو هغۀ يعقوب د زبدى زوئ، او د هغۀ ورور يوحنا وليدل، چې په خپله کشتۍ کښې ناست وُو او جالونه يې مرمت کول. (۲۰)
نو سمدستى هغۀ هغوئ راوبلل، او هغوئ خپل پلار زبدى د مزدورانو سره په کشتۍ کښې پرېښودو او په هغۀ پسې روان
شول.

## پيريانو نيولے سړے

٢١ بیا دوئ د کفرنحُوم ښاريې ته لاړل نو کله چې د سبت ورځ راغله، عیسیٰ عبادتخانې ته ننوتو او هلته يې تعليم شروع
کړو. ٢٢ نو خلق د هغۀ په تعليم حق حېران شول. ځکه چې هغۀ د هغوئ د شرعې عالمانو په شان نه، خو په پوره اختيار
سره يې تعليم ورکولو. ٢٣ نو بيا په دغه وخت کښې په عبادتخانه کښې يو سړے وو چې پېرى نيولے وو. ناګهانه هغۀ چغې
کړې، ٢٤ "تۀ زمونږ نه څۀ غواړې اے عيسیٰ ناصرى؟ تۀ راغلې چې مونږ هلاک کړې څۀ؟ زۀ دې پېژنم چې تۀ څوک يې،
تۀ د خُدائ پاک قُدوس يې." ٢٥ عيسیٰ هغه ورټلو او ورته يې وفرمائيل چې، "چپ شه او د دۀ نه راوځه." ٢٦ او پيرى هغه
سړے ډېر ولړزولو او په چغه ترې راووتلو. ٢٧ هغوئ ټول حق حېران شول او د يو بل نه يې تپوس وکړو چې، "دا لا څۀ
دى؟ دا خو د اختيار سره يو نوے تعليم دے. تر دې چې پيريانو ته حُکم کوى، او هغوئ يې هم منى." ٢٨ نو ډېر زر په ټول
ګليل کښې هغه مشهور شو.

## د ډېرو خلقو جوړول

٢٩ د عبادتخانې نه په راوتو هغوئ نېغ د شمعون او اندرياس کره لاړل او يعقوب او يوحنا هم ورسره ملګرى وُو. ٣٠ د
شمعون خواښې تبې نيولې وه، او په کټ کښې پرته وه. هغوئ بيا د هغې د بيمارئ حال ورته ووئيلو. ٣١ عيسیٰ ورغلو او د
هغې لاس يې ونيولو او په پښو يې ودروله او تبه يې لاړه او هغه د هغوئ په خِدمت کولو شروع شوه. ٣٢ هغه ماښام د نمر د
پرېوتو نه پس هغوئ عيسیٰ له ټول بيماران او پيريانو نيولى خلق راوستل. ٣٣ او ټوله ښاريه د هغۀ د کور مخې ته راټوله
شوله. ٣٤ عيسیٰ ډېر بيماران روغ کړل چې په مختلفو بيماريانو آخته وُو او ډېر پيريان يې وشړل. هغۀ پيريان د خبرو نه
منع کړل ځکه چې هغوئ ته پته وه چې دا څوک دے.

## په ګليل کښې ګرځېدل او بيان کول

٣٥ سحر وختى د نمر ختو نه وړاندې عيسیٰ پاځېدو او بهر لاړو. هغه ځان له يو خوشى بيابان ته لاړو او هلته يې دُعا کوله.
٣٦ خو شمعون او د هغۀ ملګرو يې تلاش کولو چې وې مومى، ٣٧ او کله چې يې وموندلو نو ورته يې ووئيل چې، "ټول
خلق ستا په تلاش کښې دى." ٣٨ هغۀ جواب ورکړو چې، "راځئ چې نزدې ښارونو ته لاړ شُو چې زۀ هلته هم خپل بيان
وکړم ځکه چې زۀ په هم دې غرض راوتلے يم." ٣٩ نو هغه په ټول ګليل کښې ګرځېدو، د هغوئ په عبادتخانو کښې يې بيان
کولو او پيريان يې شړل.

## د يو جذامى پاکول

٤٠ عيسیٰ له يو جذامى راغلو، مِنت زارى يې ورته وکړل او ورته په سجده پرېوتو، عيسیٰ ته يې ووئيل چې، "کۀ تۀ وغواړې
نو ما روغولے شې." ٤١ د عيسیٰ زړۀ په هغۀ وسوزېدلو، خپل لاس يې وراوږد کړو، او د هغۀ سره يې ولګولو او ورته يې
فرمائيل چې، "آو، زۀ غواړم. پاک شه." ٤٢ نو سمدستى د هغۀ نه جذام ختم شو او هغه پاک شو. ٤٣ بيا عيسیٰ هغه د دې
سخت حکم سره رُخصت کړو، ٤٤ "ګوره چې هيچا ته د دې په حقله څۀ ونۀ وائې. لاړ شه، خپل ځان اِمام ته وښايه او
کومه شکرانه چې موسیٰ مقرره کړې ده هغه ورکړه. دا به ستا د روغولو ګواهى شى." ٤٥ خو هغه سړے بهر لاړو او د دې
قيصې نه يې ټول خلق خبر کړل. دا خبره يې تر لرې لرې خوره کړله تر دې چې عيسیٰ به يو ښار ته هم په ښکاره نۀ شو
تلے او بهر به په خوشو ځايونو کښې پاتې کېدو. خو بيا به هم خلق د هر لورى نه هغۀ له راتلل.

## د يو شل سړى روغول

٢ ١ کله چې عيسىٰ يو څو ورځې وروستو کفرنحُوم ته واپس شو نو خلقو ته دا پته ولګېده چې هغه په کور کښې دے.
٢ او دومره ډېر خلق ورته راټول شول چې د دروازې نه بهر هم نۀ ځائېدل. او څۀ وخت چې هغۀ هغوئ ته کلام بيانولو،
٣ نو څلورو کسانو يو شل سړے راوچت کړے وو او هغۀ له يې په پوزى کښې راوړو. ٤ خو د ګڼې له کبله يې هغۀ ته
نزدې نۀ کړے شو، نو هغوئ د کوټې چت په هغه ځائ کښې سورے کړو چرته چې عيسىٰ وو او په هغه سورى کښې يې
هغه شل سړے په بستره کښې د هغۀ مخې ته ورښکته کړو. ٥ کله چې عيسىٰ د هغوئ دا ايمان وليدو نو هغه شل سړى ته
يې وفرمائيل، ”زما زويه، ستا ګناهونه معاف شول.“ ٦ خو هلته په دغه موقع يو څو د شرعې عالمان ناست وُو، هغوئ د
ځان سره ووئيل چې، ٧ ”دا سړے داسې خبرې ولې کوى؟ دا خو کُفر دے. د خُدائ پاک نه علاوه هم لا څوک د چا
ګناهونه بخښلے شى څۀ؟“ ٨ سمدستى عيسىٰ پوهه شو چې دوئ په زړۀ کښې څۀ سوچ کوى نو هغوئ ته يې وفرمائيل
چې، ”تاسو په خپلو زړونو کښې داسې سوالونه ولې راولئ؟ ٩ آيا دا آسانه خبره ده چې زۀ دې شل کس ته ووايم چې
ګناهونه دې معاف شُو، او کۀ دا ووايم چې پاڅه خپله بستره دې واخله او وګرځه؟ ١٠ خو دا ځکه چې تاسو په دې پوهه
شئ چې اِبن آدم سره په دُنيا کښې د ګناهونو د بخښلو اختيار هم شته.“ نو هغه شل سړى ته يې وفرمائيل چې، ١١ ”زۀ تا ته
وايم چې، پاڅه، خپله بستره دې واخله او کور ته ځه.“ ١٢ او هغه پاڅېدو، سمدستى يې خپله بستره واخسته او د ټولو په
مخکښې روان شو. دغه شان هغوئ ټول حېران پاتې شول او د خُدائ پاک ثناء يې ووئيله. هغوئ ووئيل چې، ”داسې کار خو
مونږ چرې هم نۀ وو ليدلے.“

## د محصولچى دعوت

١٣ عيسىٰ يو ځل بيا د درياب غاړې ته لاړو، ګڼ خلق ورله راغلل او هغۀ هلته ورته تعليم ورکړو. ١٤ څنګه چې هغه له دې
ځايه لاړو هغۀ د حلفى زوئ ليوى د محصُول په کُرسى ناست وليدو او هغۀ ته يې وفرمائيل چې، ”ما پسې راځه.“ ليوى
پاڅېدو او په هغۀ پسې روان شو. ١٥ نو څۀ وخت وروستو چې عيسىٰ د ليوى په کور کښې روټۍ ته کښېناستو، ډېر
محصولچيان، ګناهګاران او د هغۀ مريدان ورسره يو ځائ روټۍ ته ناست وُو، ځکه چې ډېرو خلقو هغه منلو. ١٦ ځينو
فريسيانو، څوک چې د شرعې عالمان وُو چې دا وليدل چې هغه د محصولچيانو او ګناهګارانو په دې ډله کښې روټۍ ته
ناست دے، نو د هغۀ مريدانو ته يې ووئيل چې، ”هغه ولې د محصولچيانو او ګناهګارو سره يو ځائ روټۍ خورى؟“ ١٧
چې عيسىٰ دا خبره واورېدله نو دوئ ته يې وفرمائيل چې، ”روغو خلقو ته د طبيب حاجت نۀ وى خو بيمارانو ته يې وى. زۀ
د دې دپاره نۀ يم راغلے چې صادقانو له دعوت ورکړم بلکې ګناهګارانو له.“

## د روژې په باب کښې تپوس کول

١٨ يو ځلې چې د يحيىٰ د مريدانو او د فريسيانو روژه وه نو ځينې خلق ورله راغلل او وې وئيل چې، ”څۀ وجه ده چې د
يحيىٰ مريدان او د فريسيانو مريدان خو روژه نيسى، ولې ستا مريدان يې نۀ نيسى؟“ ١٩ عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”کله
چې د وادۀ زلمے د جنجيانو سره وى نو هغوئ روژه نيولے شى څۀ؟ ترڅو پورې چې د وادۀ زلمے د دوئ سره وى نو
دوئ به روژه نۀ نيسى. ٢٠ يو وخت به راشى چې د وادۀ زلمے به د دوئ نه جدا کړے شى او په هغه ورځ به دوئ روژه
نيسى. ٢١ هيڅوک هم نوے پيوند په زړه چُوغه باندې نۀ لګوى، او کۀ څوک داسې کوى نو دا پيوند به چُوغه نوره هم
وشلوى او نور لوئ سورے به په کښې جوړ شى. ٢٢ هيڅوک هم نوى مے په زړو مشکونو کښې نۀ اچوى، ګنې نو مے به

مشکونه وشلوی، مے او مشکونه دواړه به ضائع شی. خو هر څوک نوی مے په نوؤ مشکونو کښې اچوی."

## د سبت په ورځ وَږی شوکول

۲۳ د یو سبت په ورځ عیسیٰ د فصل په پټو تېرېدو نو په تلو تلو کښې د هغهٔ مریدانو وَږی راوشوکول. ۲۴ فریسیانو هغهٔ ته
ووئیل چې، "وګوره، کوم کار چې د سبت په ورځ ناروا وی، دوئ ولې هغه کوی؟" ۲۵ هغهٔ ورته جواب ورکړو چې، "تاسو
چرې دا نهٔ دی لوستلی کله چې داؤد او د هغهٔ دوستان اوږی شوی وُو او د خوراک دپاره هیڅ ورسره نهٔ وُو نو څهٔ یې
وکړل؟ ۲۶ هغه د خُدائ پاک کور ته ننوتو کله چې ابیاتار مشر اِمام وو او پېش کړے شوې روټۍ یې وخوړه اګر چې هغه
په دهٔ او د دهٔ په ملګرو ناروا وه او صرف اِمامانو ته روا وه. او هغهٔ څهٔ خپلو دوستانو ته هم ورکړه." ۲۷ عیسیٰ ورته دا هم
وفرمائیل چې، "سبت د بنی آدم دپاره جوړ شوے دے، نه چې بنی آدم د سبت دپاره. ۲۸ ځکه اِبن آدم د سبت د ورځې هم
مالِک دے."

## د اوچ لاسی سړی روغول

۳ ۱ عیسیٰ دوباره عبادتخانې ته ننوتو نو هلته یو داسې سړے وو چې لاس یې اوچ شوے وو. ۲ او هغوئ دې ته کتل
چې عیسیٰ به د سبت په ورځ هغه روغ کړی او کهٔ نه، ځکه چې هغوئ به د هغهٔ خلاف اِلزام لګولو ته تیار ناست وُو. ۳
هغهٔ اوچ لاسی سړی ته وفرمائیل چې، "راشه، په مینځ کښې ودرېږه." ۴ بیا یې هغوئ ته وفرمائیل چې، "ولې د سبت په
ورځ نېکی کول روا دی کهٔ بد کول، د چا بچ کول روا دی کهٔ وژل؟" خو هغوئ چپ پاتې شول. ۵ د دوئ د سختو زړونو
په وجه هغهٔ په غصه او افسوس ټولو ته وکتل او هغه سړی ته یې وفرمائیل چې، "خپل لاس اوږد کړه." هغهٔ لاس اوږد کړو
او لاس یې روغ رمټ شو. ۶ خو فریسیان د عبادتخانې نه بهر ووتل، نو سمدستی یې د هیرودیاس قبیلې سره د عیسیٰ د
وژلو په منصوبه شروع وکړه.

## د دریاب په غاړه ګڼ خلق

۷ عیسیٰ د خپلو مریدانو سره د دریاب غاړې ته لاړو نو لویه ګڼه د ټول ګلیل او یهودیه نه ورپسې روانه وه ۸ چې د
یروشلم، اِدومیه او د اُردن پورې غاړې، د صور او صیدا د خوا او شا نه د هغهٔ لیدو له راغلل ځکه چې هغوئ دا اورېدلی
وُو چې هغه عجیبه کارونه کوی. ۹ نو هغهٔ خپلو مریدانو ته وفرمائیل چې، "ما دپاره یوه کشتۍ تیاره ساتئ چې ګڼه مې
چخنې نهٔ کړی." ۱۰ ځکه چې هغهٔ دومره ډېر بیماران روغ کړی وُو چې ټولو بیمارانو دا زور کولو چې دهٔ له لاس وروړی.
۱۱ او هرکله به چې پیریانو دے ولیدلو نو د هغهٔ په وړاندې به راغورزېدل او چغې به یې کړې چې، "تهٔ د خُدائ پاک زوئ
یې." ۱۲ خو هغهٔ به ورته په سخته وفرمائیل چې، "ما به نهٔ ښکاره کوئ."

## د حضرت عیسیٰ دولس مریدان

۱۳ بیا عیسیٰ یو غر ته لاړو او هغهٔ بیا هغه کسان راوغوښتل کوم چې هغهٔ خوښ کړی وُو او هغوئ ورله راغلل. ۱۴ هغهٔ
دولس کسان رسولان مقرر کړل، څوک چې به د هغهٔ سره وی او د پېغام ورکولو دپاره به بهر لېږلے شی، ۱۵ او د پیریانو
شړلو اختیار به هم ورسره وی. ۱۶ نو هغهٔ دولس کسان مقرر کړل چې د هغوئ نومونه دا دی، شمعون چې پطروس نوم

یې پرې کېښودو، (۱۷) بیا د زبدی په زامنو یعقوب او د هغهٔ په ورور یوحنا یې بونرګس یعنې د تندر زامن نوم کېښودو، (۱۸)
او اندریاس، فیلیپوس او برتلمای، متی، توما او د حلفئ زوئ یعقوب، تدی او شمعون ننګیالے، (۱۹) او په دوئ کښې یهوداه
اِسکریوتی چا چې په دهٔ جاسوسی وکړه هم وو.

## حضرت عیسیٰ او بعلزبول

(۲۰) نو عیسیٰ یو کور ته ننوتو او بیا دومره خلق پرې راټول شول چې دوئ روټئ هم نهٔ شوه خوړلے. (۲۱) هر کله چې د هغهٔ
خاندان دا واورېدل نو هغوئ لاړل چې د هغهٔ مخه ونیسی ځکه چې خلقو وئیل چې، ”هغه په خود کښې نهٔ دے.“ (۲۲) هغه د
شرعې عالمان څوک چې د یروشلم نه راغلی وُو، هغوئ هم وئیل چې، ”دے بعلزبول نیولے دے،“ او ”دے د پیریانو د
سردار په مدد پیریان شړی.“ (۲۳) نو عیسیٰ بیا هغوئ راوغوښتل او په مِثالونو کښې یې ورته وفرمائیل چې، ”شېطان څنګه
شېطان شړلے شی؟ (۲۴) کهٔ یوه بادشاهی په خپلو کښې ووېشلے شی نو هغه بادشاهی پاتې کېدے نهٔ شی. (۲۵) کهٔ په یو
کور کښې بې‌اتفاقی راشی نو هغه کور هم هیڅکله پاتې کېدے نهٔ شی. (۲۶) او کهٔ چرې اِبلیس د خپل ځان خلاف شی نو هغه
به هم بې‌اتفاقه شی نو هغه بیا پاتې کېدے نهٔ شی او د هغهٔ اَنجام راورسېدو. (۲۷) خو بیا څنګه یو سړے د یو زورَور سړی په
کور ورتلے شی او د هغهٔ مال حال لوټ کولے شی؟ ترڅو چې اول هغهٔ دا زورَور سړے تړلے نهٔ وی د هغهٔ کور نهٔ شی
لوټ کولے. (۲۸) زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې یوه ګناه او یو کُفر هم داسې نشته چې هغه بخښلے نهٔ شی، (۲۹) خو هر څوک
چې په روحُ القُدس باندې کُفر وائی هغه به هیڅکله هم معافی ونهٔ مومی او هغه به د تل عُمری ګناه مجرم وی.“ (۳۰) عیسیٰ دا
ځکه وفرمائیل چې هغوئ وئیل چې، ”دے پیریانو نیولے دے.“

## د حضرت عیسیٰ رښتینې رشته‌دار

(۳۱) بیا د عیسیٰ مور او ورونه راغلل او بهر ولاړ وُو او د هغهٔ د رابللو دپاره یې څوک ورولېږل. (۳۲) ګڼ خلق ترې چاپېره
ناست وُو او هغوئ ورته ووئیل چې، ”ستا مور او ورونه بهر ولاړ دی، هغوئ تا سره مِلاوېدل غواړی.“ (۳۳) هغهٔ جواب
ورکړو، ”زما مور او زما ورونه څوک دی؟“ (۳۴) او هغه ګېرچاپېره ناستو خلقو ته یې وکتل او وې فرمائیل چې، ”زما مور
او ورونه دا دی. (۳۵) څوک چې د خُدائ پاک رضا کوی، هغه زما ورور خور او مور ده.“

## د زمیندار مِثال

**۴** (۱) عیسیٰ یو ځل بیا د دریاب په غاړه تعلیم شروع کړو او دومره ډېر خلق ورته راټول شوی وُو چې هغه ترې په دریاب
کښې کشتئ ته وختو او هلته کښېناستو، او نور ټول خلق د دریاب په غاړه په اوچه ورته راټول شوی وُو. (۲) او هغهٔ هغوئ
ته په مِثالونو کښې د ډېرو خبرو تعلیم ورکړو. او په خپل تعلیم کښې هغهٔ هغوئ ته وفرمائیل، (۳) ”واورئ، یو زمیندار د
کروندې دپاره بهر لاړو. (۴) نو چې کله هغهٔ په خپل پټی کښې تخم نوستلو نو څهٔ تخم ترې نه په لاره پرېوتو نو مارغان
راغلل هغه یې وخوړو. (۵) څهٔ تخم په کاڼیزه زمکه پرېوتو چرته چې لږه شان خاوره وه او دا زر راوټوکېدلو ځکه چې هلته
لاندې نوره خاوره نهٔ وه. (۶) خو چې نمر راوختلو نو هغه کچه بوټی یې وسوزول او هغه اوچ شُو ځکه چې جرړې یې نهٔ
وې. (۷) څهٔ تخم په غنو کښې پرېوتو، ازغی لوئ شول او فصل یې لاندې کړو او مېوه دانه یې ونهٔ نیوله. (۸) او څهٔ تخم په
زرخیزه زمکه پرېوتو چرته چې هغه راوټوکېدو او لوئ شو او یو په دېرش یو په شپېتهٔ او یو په سل غله یې وکړه.“ (۹) هغهٔ

بیا وفرمائیل، ”کۀ څوک د اورېدو غوږونه لری نو هغه دې واوری.“

## د مِثال مطلب

۱۰ هر کله چې عیسیٰ د ګڼې نه فارغ شو نو دولسو مریدانو او نورو د هغۀ نه ځانله د مِثالونو په حقله تپوس وکړو. ۱۱
هغۀ جواب ورکړو چې، ”تاسو ته د خُدائ پاک د بادشاهۍ راز درکړے شوے دے خو هغه څوک چې بهر دی، هغوئ ته هره
خبره په مِثالونو کښې کېږی. ۱۲ لکه څنګه چې صحيفې وائی، زۀ چې څۀ کوم هغوئ به يې په سترګو وينی، خو څۀ به هم
ترې نۀ زده کوی، هغوئ به اوری خو پوهېږی به پرې نه، ګنې نو هغوئ به خُدائ پاک ته راوګرځی او وبه بخښلے شی.“

## د کرونکی مِثال تشريح کول

۱۳ بیا عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، ”ولې تاسو په دې مِثال پوهه نۀ شوئ؟ نو بیا به تاسو په نورو مِثالونو څنګه پوهه شئ؟ ۱۴
زمیندار کلام کَری. ۱۵ د لارې په غاړه هغه خلق دی چرته چې کلام کَرلے کېږی، او چې کلام واوری نو شېطان سمدستی
راشی او کَرلے شوے کلام د دوئ نه یوسی. ۱۶ دغسې هم هغه دی چې په کاڼیزه زمکه کَرلے شوی دی، څنګه چې دوئ
کلام واوری نو په خوشحالۍ سره يې سمدستی قبول کړی. ۱۷ خو چې جرړې يې نۀ وی، نو د زغم طاقت په کښې د لږ
وخت دپاره وی، نو بیا کله چې د کلام په وجه په هغوئ تکلیف یا سختی راشی نو بیا سمدستی هغوئ تېندک وخوری. ۱۸
نور خلق هغوئ دی چې په غنو کښې وکرلے شُو. دا هغه خلق دی چې کلام اوری، ۱۹ خو د دُنیا غم او د مال دولت لالچ
او د نورو څیزونو خواهشات په مېنځ کښې راشی او د کلام مرئ خپه کړی او کلام بې‌مېوې پاتې شی. ۲۰ او بیا هغه خلق
دی چې تخم يې په زرخېزه زمکه پرېوتو، دوئ کلام واوری او قبول يې کړی او يو په دېرش، يو په شپېتۀ او يو په سل مېوه
ونیسی.“

## د ښانک د لاندې ډیوه

۲۱ عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل، ”ولې تاسو ډیوه د لوښی یا د کټ لاندې د کېښودو دپاره راوړئ؟ او ولې هغه تاسو په ډیوټ
نۀ ږدئ څۀ؟ ۲۲ خو داسې پټ څيز نشته چې ښکاره به نۀ شی او نۀ داسې پټ راز شته چې هغه به ښکاره نۀ شی. ۲۳ کۀ
څوک د اورېدو غوږونه لری نو هغه دې واوری.“ ۲۴ عیسیٰ دا هم وفرمائیل، ”ما ته توجو وکړئ چې څۀ اورئ، نو چې
څنګه تاسو د بل ناپ تول کوئ، دغه رنګ به ستاسو ناپ تول کولے شی، بلکې لږ څۀ زیات. ۲۵ ځکه د هر چا سره چې
څۀ وی هغۀ له به نور هم ورکړے شی، خو د چا سره چې نۀ وی هغۀ نه به هغه څۀ هم واخستلے شی چې ورسره وی.“

## د تخم د زرغونېدو مِثال

۲۶ عیسیٰ وفرمائیل، ”د خُدائ پاک بادشاهی داسې ده چې کۀ يو سړے تخم په زمکه کښې کَری. ۲۷ او کۀ هغه د شپې او
ورځې اودۀ او یا ویښ وی خو هغه په دې نۀ پوهېږی چې په زمکه کښې تخم په خپله څنګه راټوکېږی او لوئېږی. ۲۸ زمکه
له ځان نه غله پخپله پېدا کوی، وړومبے تېغه، بیا وږی او بیا په وږی کښې تیارې دانې. ۲۹ خو هر کله چې فصل پوخ شی
نو هغه وربسې لور راواخلی ځکه چې د فصل د لو کولو وخت راغلے وی.“

## د شړشمو د تخم مِثال

۳۰ عيسىٰ دا هم وفرمائيل، ”مونږ د خُدائ پاک بادشاهى د څۀ شى سره بيانولے شُو، يا د هغې دپاره کوم مثال
استعمالولے شُو؟ ۳۱ دا د شړشمو د هغه تخم په شان ده کله چې په زمکه وکرلے شى، دا په زمکه کښې د ټولو تخمونو نه
وړکوټے وى، ۳۲ نو چې وکرلے شى دا د باغ د ټولې کروندې نه ډېر لوئيږى او دومره لوئ څانګې خورې کړى چې د هوا
مارغان يې په سورى کښې جالې جوړوى.“ ۳۳ هغۀ به کلام دغسې په ډېرو مِثالونو ورته اوروَلو څومره چې هغوئ برداشت
کولے شو. ۳۴ هغۀ د هغوئ سره د مِثالونو نه بغېر کلام ونۀ کړو خو څان له يې خپلو مريدانو ته هر څۀ واضحه کړل.

## د حضرت عيسىٰ په درياب کښې طوفان ودرول

۳۵ په هغه ورځ ماښام هغۀ مريدانو ته وفرمائيل، ”راځئ چې د درياب پورې غاړې ته لاړ شُو.“ ۳۶ هغوئ ګڼه پاتې کړه او
مريدانو هغه د څان سره په کشتۍ کښې بوتلو په کومه کښې چې هغه ناست وو او د هغۀ سره نورې کِشتۍ هم وې. ۳۷ خو
په درياب کښې يو زورَور طوفان راغلو، چپو کِشتۍ داسې ووهله چې ډوبېدو ته نزدې شوې وه. ۳۸ عيسىٰ وروستو په
کِشتۍ کښې اوده وو او بالښت يې سر لاندې پروت وو. هغوئ هغه راښېدار کړو او ورته يې ووئيل، ”مالِکه، مونږ ډوبيږو، تا
سره څۀ غم نشته؟“ ۳۹ هغه بېدار شو، باد يې ورټلو او درياب ته يې وفرمائيل چې، ”په آرام شه، ودرېږه.“ باد ودرېدلو نو په
هغه ساعت قلاره قلارې شوه. ۴۰ هغۀ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”تاسو ولې دومره يرېږئ، تاسو لا اوس هم ايمان نۀ لرئ؟“
۴۱ هغوئ يرې اخستى وُو او يو بل ته يې ووئيل، چې، ”دا لا څۀ قِسم سړے دے چې هوا او چپې يې هم حکم منى.“

## پيريانو نيولے سړے روغول

۵ ۱ او هغوئ د درياب بلې غاړې ته د ګِراسينيانو علاقې ته راغلل. ۲ او چې کله عيسىٰ د کشتۍ نه راکوز شو، نو
سمدستى يو سړے چې پيريانو نيولے وو د قبرستان نه د هغۀ سره د مِلاوېدو دپاره راووتلو. ۳ هغه په قبرستان کښې
اوسېدو او هيچا هم قابو کولے نۀ شو، تر دې چې په زنځيرونو کښې هم تړلے کېدے نۀ شو. ۴ څکه چې هغۀ ته يې څو
څو ځله زنځيرونه او هتکړۍ اچولې وې خو هغۀ زنځيرونه شلولى وُو او هتکړۍ يې ماتې کړې وې او دومره طاقتور هيڅوک
نۀ وُو چې هغه يې قابو کړے وے. ۵ شپه او ورځ به هغۀ په قبرونو او د غرونو په خوا کښې چغې وهلې او څان به يې په
کاڼو زخمى کولو. ۶ کله چې هغۀ عيسىٰ د لرې نه وليدلو نو هغۀ ورمنډه کړه او سجده يې ورته وکړه، ۷ او په چغو يې
ووئيل، ”اے عيسىٰ، د خُدائ تعالىٰ زويه، تۀ زما نه څۀ غواړې؟ خُدائ ته وګوره چې ما مۀ په عذابوه.“ ۸ څکه چې عيسىٰ
هغۀ ته دا وفرمائيل، ”اے پيريانو، د دې سړى نه راوځئ.“ ۹ بيا عيسىٰ د هغۀ نه تپوس وکړو چې، ”نوم دې څۀ دے؟“ هغۀ
جواب ورکړو چې، ”زما نوم لښکر دے، څکه چې مونږ ډېر يُو.“ ۱۰ او هغۀ مِنت زارى ورته وکړه چې دوئ د دې علاقې نه
ونۀ شړى. ۱۱ نو هلته د غرۀ په خوا کښې د خنزيرانو يوه لويه رمه څرېدله. ۱۲ او پيريانو زارى ورته وکړه چې، ”مونږ
خنزيرانو ته ولېږه او د ورننوتو اجازت راکړه.“ ۱۳ نو هغۀ هغوئ ته اجازت ورکړو او پيريان راووتل او په خنزيرانو کښې
ورننوتل او خوا او شا د دوه زره خنزيرانو دغه رمه په منډه شوه او د کمر نه ښکته درياب ته پرېوته او په اوبو کښې ډوبه
شوه. ۱۴ د خنزيرانو ساتونکى وتښتېدل او دا خبر يې ښار او خوا او شا بانډو ته ورسولو او خلق د دې واقعې تماشې له
راووتل. ۱۵ هغوئ عيسىٰ له راغلل او هغه سړے چې د پيريانو لښکر نيولے وو هغه يې وليدو چې جامې يې اغوستې دى او
هلته سم دم ناست دے نو هغوئ ويرېدل. ۱۶ کومو خلقو چې دا واقعه ليدلې وه، هغوئ نورو خلقو ته ووئيل چې دا پيريانو

نیولے سړے څنګه روغ شو او د خنزیرانو سره څهٔ وشول. ۱۷ بیا هغوئ عیسیٰ ته مِنت زاری وکړه چې، ”زمونږ د علاقې
نه لاړ شه.“ ۱۸ څهٔ وخت چې عیسیٰ کِشتئ ته ورختلو نو کوم سړے چې پیریانو نیولے وو، هغهٔ هم ورسره د تلو خواست
وکړو. ۱۹ خو عیسیٰ د دې اجازت ورنهٔ کړو او ورته یې وفرمائیل چې، ”خپل کور ته واپس لاړ شه او خپلو خپلوانو ته
ووایه چې مالِک خُدائ ستا دپاره هر څهٔ وکړل او خپل څومره فضل یې تا ته ښکاره کړو.“ ۲۰ هغه لاړو او په دِکپولس
کښې یې هغه څهٔ بیان کړل، چې عیسیٰ د هغهٔ دپاره کړی وُو او ټول خلق حق حېران شول.

## د حضرت عیسیٰ یوه جینۍ راژوندۍ کول او یوې ښځې له شفا ورکول

۲۱ کله چې عیسیٰ بیا د دریاب بلې غاړې ته په کشتۍ کښې پورې وتلو، نو یوه لویه ګڼه ترې راچاپیره شوه، او هغه لا د
دریاب په غاړه وو. ۲۲ نو د عبادتخانې یو مشر چې یائیر نوم یې وو راغلو او کله چې یې هغه ولیدو نو هغهٔ ته په پښو
پرېوتو. ۲۳ او مِنت زاری یې ورته وکړه چې، ”زما وړه لور مرګی حال ده. ما سره لاړ شه او خپل لاس پرې کېږده، نو هغه
به روغه او ژوندۍ شی.“ ۲۴ عیسیٰ د هغهٔ سره لاړو، او دومره لویه ګڼه وه چې هغه یې په مینځ کښې راګېر کړے وو. ۲۵
په هغوئ کښې یوه ښځه وه چې د دولسو کالو راسې یې وینه بهېدله. ۲۶ هغې د ډېرو ډاکټرانو د علاج په وجه زیات تکلیف
برداشت کړو او خپل ټول مال یې په ځان ولګولو خو هیڅ فرق یې ونهٔ شو او تکلیف یې لا نور هم سېوا شو. ۲۷ هغې د
عیسیٰ په حقله اورېدلی وُو، نو هغه د شا د طرفه په ګڼه کښې راغله او د هغهٔ چُوغې له یې لاس وروړو، ۲۸ ځکه چې هغې
په زړهٔ کښې دا وئیل، ”که زهٔ یې صرف چُوغې له لاس هم وروړم نو جوړه به شم.“ ۲۹ خو په هم هغه ساعت د ښځې وینه
بنده شوه او په ځان پوهه شوه چې د عذاب نه خلاصه شوه. ۳۰ په هغه ساعت عیسیٰ په ځان پوهه شو چې د هغهٔ نه یو
طاقت رابهر شو. عیسیٰ په ګڼه کښې مخ راواړولو او تپوس یې وکړو چې، ”زما چُوغې له چا لاس وروړو؟“ ۳۱ د هغهٔ
مریدانو هغهٔ ته ووئیل، ”تهٔ دا ګڼه په خپله وینې چې ستا طرف ته زور کوی، او بیا هم دا تپوس کوې چې دا چا ما له لاس
راوړو؟“ ۳۲ خو هغهٔ ګېرچاپېره وکتل چې دا څوک وو. ۳۳ خو ښځه چې په ځان پوهه شوه چې په هغې څهٔ شوی دی، نو
د یرې نه په ریږدو شوه، د هغهٔ په وړاندې په ګوډو شوه، او ټول حقیقت یې ورته ووئیلو. ۳۴ هغهٔ هغې ته وفرمائیل چې،
”زما لورې، ستا ایمان تهٔ روغه کړې. په خیر لاړه شه او د دې تکلیف نه روغه شه.“ ۳۵ هغهٔ لا دا خبرې کولې چې د
عبادتخانې د مشر د کوره څهٔ خلق راغلل چې خبر ورکړی چې، ”ستا لور مړه شوه، اُستاذ له تکلیف څهٔ له ورکوې؟“ ۳۶
خو عیسیٰ چې دا خبره واورېده نو د عبادتخانې مشر ته یې وفرمائیل چې، ”یرېږه مه، صرف ایمان وساته.“ ۳۷ هغهٔ بغېر د
پطروس، یعقوب او د یعقوب د وررور یوحنا نه بل څوک ځان سره بونهٔ تلل. ۳۸ کله چې هغوئ د عبادتخانې د مشر کور ته
ورغلل، هلته هغهٔ لویه ګڼه د خلقو ژړا او انګولا ولیدله چې په چغو یې ژړل. ۳۹ کله چې عیسیٰ ننوتلو هغوئ ته یې
وفرمائیل، ”ولې تاسو ژړا انګولا او ویر کوئ؟ جینۍ مړه نهٔ ده، هغه خو اوده ده.“ ۴۰ خو هغوئ وریورې وخندل. بیا هغهٔ
ټول خلق بهر کړل او هغهٔ د جینۍ مور، پلار او خپل ملګری د ځان سره کړل او هلته ورغلل چرته چې جینۍ پرته وه. ۴۱
بیا یې هغه د لاسه ونیوله او هغې ته یې وفرمائیل، ”تلیتا قومی،“ چې مطلب یې دا دے، ”پاڅه زما بچی.“ ۴۲ جینۍ سمدستی
پاڅېدله او روانه شوه. هغه د دولسو کالو وه. په دې هغوئ ټول اریان دریان شول. ۴۳ هغهٔ هغوئ ته په سخته وفرمائیل
چې، ”ګورئ په دې څوک خبر نهٔ شی.“ او هغوئ ته یې وفرمائیل چې، ”هغې له څهٔ ورکړئ چې وې خوری.“

## د حضرت عیسیٰ په ناصرت کښې نهٔ قبلېدل

۶ ۱ عیسیٰ د هغه ځائ نه روان شو او د خپلو مریدانو سره خپل ښار ته راغلو. ۲ هرکله چې د سبت ورځ راغله نو

هغهٔ په عبادتخانه کښې تعليم ورکړو او ډېرو خلقو چې د هغهٔ تعليم واورېدلو نو حېران شول او وې وئيل چې، ”هغهٔ دا خبرې
د کومه زده کړې؟ او دا پوهه دهٔ له څنګه ورکړے شوه؟ او دے دا معجزې څنګه کوی؟ ۳ دا هغه ترکاڼ نهٔ دے، د مريمې
زوئ، د يعقوب، د يوسف، د يهوداه او د شمعون ورور نهٔ دے څهٔ؟ او ولې د دهٔ خوېندې دلته مونږ سره نهٔ دی؟“ دغه شان
هغوئ دے قبول نهٔ کړو. ۴ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”د نبی په هر ځائ کښې عزت وی بغېر د خپل ښار او د خپلو
خپلوانو او د خپل خاندان نه.“ ۵ هغهٔ هلته معجزې ښکاره نهٔ کړې بغېر د دې نه چې خپل لاسونه يې په يو څو بيمارانو
راښکل او هغوئ يې روغ کړل. ۶ او هغه د هغوئ په بې‌ايمانئ حېران شو. نو بيا هغه په ګېرچاپېره کلو کښې ګرځېدو او
تعليم يې ورکولو.

## د دولسو مريدانو لېږل

۷ هغهٔ دولس مريدان راوغوښتل او دوه دوه تنه يې لېږل شروع کړل او هغوئ له يې د پېريانو د شړلو اختيار ورکړو. ۸
هغهٔ ورته حکم وکړو چې، ”د سفر دپاره د يوې امسا نه بغېر بل هيڅ مهٔ اخلئ، نهٔ روټئ، نهٔ تيلئ او نهٔ په بټوه کښې پېسې. ۹
پېزار په پښو کړئ خو دوېم قميص مهٔ اخلئ.“ ۱۰ او ورته يې وفرمائيل چې، ”کهٔ چرته تاسو کوم کور ته ننوځئ نو هلته
پاتې شئ تر هغې چې د هغه ځايه بل ځائ ته رُخصت شئ. ۱۱ او چې په کوم ځائ کښې خلق تاسو قبول نهٔ کړی او غوږ
درته ونهٔ نيسی نو چې کله تاسو هغه ځائ پرېږدئ نو د خپلو پښو نه دوړې وڅنډئ چې د هغوئ خلاف ګواهی شی.“ ۱۲ نو
هغوئ بهر لاړل او دا بيان يې کولو چې توبه ګار شئ. ۱۳ هغوئ ډېر پېريان وشړل او ډېر بيماران يې په تېلو مسح کړل او
ډېرو خلقو له يې شفا ورکړه.

## د حضرت يحيیٰ بپتسمه ورکونکی مرګ

۱۴ نو هيروديس بادشاه د دې نه خبر شو ځکه چې د عيسیٰ نامه مشهوره شوه. ځينې خلقو دا وئيل چې، ”بپتسمه
ورکوونکے يحيیٰ بيا د مړو نه راژوندے شوے دے، ځکه خو ورسره د معجزو طاقت هم دے.“ ۱۵ خو نورو وئيل چې،
”دا الياس دے.“ او ځينو وئيل چې، ”دا د پخوانو نبيانو په شان لوئ نبی دے.“ ۱۶ خو چې هيروديس د عيسیٰ په حقله
واورېدل نو وې وئيل چې، ”هغه يحيیٰ چې ما يې سر پرې کړے وو بيا راژوندے شوے دے.“ ۱۷ ځکه هيروديس د خپل
ورور فيليپوس د ښځې هيروديادس په وجه يحيیٰ ګرفتار کړے وو، په زنځير يې تړلے وو او په قېدخانه کښې يې اچولے وو.
ځکه چې هيروديس بادشاه اوس پخپله د هيروديادس سره وادهٔ کړے وو. ۱۸ او يحيیٰ هغهٔ ته فرمائيلی وُو چې، ”د خپل
ورور د ښځې سره نِکاح کول په تا حرام دی.“ ۱۹ نو په دې وجه د هغهٔ ښځې هيروديادس ورسره کينه لرله او غوښتل يې
چې هغه قتل کړی خو کولے يې نهٔ شو، ۲۰ ځکه چې هيروديس د يحيیٰ نه په دې يرېدو چې هغهٔ ته معلومه وه چې دے
پاک او نېک سړے دے، ځکه يې د هغهٔ ساتنه وکړه. هيروديس دا غوښتل چې د هغهٔ خبرې واوری اګر چې د هغهٔ خبرو
هغه ډېر وارخطا کړے وو. ۲۱ خو آخر هيروديادس ته دا موقع مِلاو شوه کله چې هيروديس په خپله سالګره کښې خپلو
اميرانو، فوجی آفسرانو او د ګليل لويو خلقو ته مېلمستيا کړې وه. ۲۲ د هغې لور دننه راغله او ګډه شوه او هيروديس او د
هغهٔ مېلمانهٔ دومره خوشحاله شول چې بادشاه جينئ ته ووئيل، ”څهٔ چې غواړې وې غواړه، نو زهٔ به يې درکړم.“ ۲۳ او
هغهٔ هغې ته قسم وخوړو، ”هر څهٔ چې تهٔ غواړې، زهٔ به يې درکړم تر خپلې نيمې بادشاهۍ پورې.“ ۲۴ هغه بهر ووتله او
خپلې مور ته يې ووئيل چې، ”زهٔ ترې څهٔ وغواړم؟“ هغې جواب ورکړو، ”د بپتسمه ورکوونکی يحيیٰ سر.“ ۲۵ جينئ
سمدستی بادشاه له ورغله او خواست يې وکړو، ”زهٔ غواړم چې تهٔ ما ته اوس دلته د بپتسمه ورکوونکی يحيیٰ سر په تالی

کښې راوړي.“ ۲۶ بادشاه ډېر زيات غمژن شو خو د خپلو قسمونو او د مېلمنو په وجه يې دا نۀ غوښتل چې د هغې د خواست نه اِنکار وکړی. ۲۷ نو بادشاه سمدستی سپاهی له حُکم ورکړو چې، ”لاړ شه، د يحيیٰ سر راوړه.“ سپاهی لاړو په قېدخانه کښې يې د هغۀ سر پرې کړو ۲۸ او په يو تالی کښې يې راوړو او جينۍ ته يې پېش کړو، او بيا هغې خپلې مور له ورکړو. ۲۹ کله چې د يحيیٰ مريدان د دې نه خبر شول نو راغلل د هغۀ لاش يې واخستو او په قبر کښې يې کېښودو.

## پينځۀ زره سړو او ورسره ښځو او ماشومانو له روټۍ ورکول

۳۰ رسولان بيا عيسیٰ ته راټول شول او هر څۀ چې يې کړی او ښودلی وُو هغه يې ترې خبر کړو. ۳۱ هغۀ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”تاسو ما پسې راځئ چې چرته خوشې بيابان ته لاړ شُو چې تاسو لږ آرام وکړئ.“ ځکه چې دومره زيات خلق تلل راتلل چې هغوئ روټۍ خوړلو ته هم نۀ وزګاريدل. ۳۲ بيا هغوئ په کشتۍ کښې کښېناستل او يو خوشې بيابان ته لاړل. ۳۳ خو ډېرو خلقو هغوئ په تلو کښې وليدل او وې پېژندل او بيا هغوئ د ټولو ښاريو نه هغه ځائ ته پياده لاړل او د هغوئ نه وړاندې ورسېدل. ۳۴ هغه چې غاړې ته راورسېدو نو يوه لويه ګڼه يې وليده او زړۀ يې پرې وسوزېدلو ځکه چې هغوئ د داسې ګډو په شان وُو چې شپون ورسره نۀ وی او هغۀ هغوئ ته د ډېرو خبرو په حقله تعليم ورکړو. ۳۵ هر کله چې ورځ په تېرېدو شوه د هغۀ مريدان هغۀ له ورغلل او وې وئيل چې، ”دا خوشې بيابان دے او ناوخته دے. ۳۶ دا خلق خوا او شا کلو او بانډو ته رُخصت کړه چې لاړ شی خپل ځان له د خوراک څۀ څيزونه واخلی.“ ۳۷ خو هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو د ځانه دوئ له د خوراک څۀ ورکړئ چې وې خوری.“ هغوئ جواب ورکړو، ”ولې مونږ لاړ شُو او د دوو سوو دينارو روټۍ د دوئ د خوړلو دپاره واخلو؟“ ۳۸ هغۀ ورته وفرمائيل چې، ”تاسو سره څومره روټۍ دی؟ لاړ شئ او وې ګورئ.“ هغوئ لاړل، وې کتلې او هغۀ ته يې ووئيل چې، ”پينځۀ روټۍ او دوه کبان دی.“ ۳۹ بيا هغۀ هغوئ ته حکم ورکړو چې، ”په شين کبل د دې خلقو ډېلې ډېلې جوړه کړئ.“ ۴۰ نو هغوئ د پنځوسو او سلو کسانو په ډېلو کښې کښېناستل. ۴۱ بيا هغۀ پينځۀ روټۍ او دوه کبان واخستل، آسمان ته يې پاس وکتل، برکت يې ورکړو او روټۍ يې ماتې کړې. او هغه يې مريدانو له ورکړې چې د خلقو په وړاندې کېږدی. او هغۀ هم هغه دوه کبان په هغوئ ټولو تقسيم کړل. ۴۲ هغوئ ټولو ښۀ په مړه ګېډه خوراک وکړو. ۴۳ او مريدانو د پاتې شوو روټو او کبانو نه دولس ډکې ټوکرۍ راټولې کړې. ۴۴ نو دا روټۍ څۀ پينځۀ زره سړو وخوړله.

## په اوبو باندې ګرځېدل

۴۵ بيا سمدستی عيسیٰ خپل مريدان کشتۍ ته وخېژول چې د هغوئ نه وړاندې د درياب پورې غاړې بيت‌صيدا ته لاړ شی، نو چې هغه په خپله د خلقو ګڼه رُخصت کړی. ۴۶ چې هغوئ يې رُخصت کړل نو په خپله غرۀ ته وختلو چې دُعا وکړی. ۴۷ کله چې ماښام ناوخته شو او کِشتۍ په اوبو کښې وړاندې تلې وه او هغه په اوچه کښې بلکل ځان له وو. ۴۸ عيسیٰ وليدل چې هغوئ د کشتۍ په بوتلو کښې په تکليف دی ځکه چې هوا د مخالف طرف نه وه. او عيسیٰ په شپه کښې د سحر کېدو نه لږ وړاندې د اوبو دپاسه د هغوئ په طرف ورروان وو. نو هغه په هغوئ اوړېدو، ۴۹ خو کله چې هغوئ عيسیٰ د اوبو دپاسه روان وليدو، نو دا سوچ يې وکړو چې ګني دا پيرے دے او چغې يې کړې، ۵۰ ځکه چې هغوئ ټولو دے وليدلو او يرې واخستل. خو هغۀ سمدستی وفرمائيل چې، ”مۀ يرېږئ. دا زۀ يم چې يره ونۀ کړئ.“ ۵۱ بيا هغه د هغوئ سره کِشتۍ ته وختلو او طوفان ودرېدلو. په دې هغوئ بلکل اريان دريان شول، ۵۲ ځکه چې هغوئ لا د روټۍ په هغه واقعه پوهه نۀ وُو، د هغوئ زړونه سخت شوی وُو.

## د گِنيسرت په علاقه کښې بيماران روغول

۵۳ کله چې هغوئ پورې غاړې ته ورسېدل نو هغوئ د گِنيسرت علاقې ته راغلل او هلته يې کِشتۍ په گودر وتړله. ۵۴ کله چې هغوئ د کشتۍ نه راکوز شول نو خلقو سمدستى عيسىٰ وپېژندو. ۵۵ او خلق گېرچاپېره علاقې ته په منډه لاړل او د هرې خوا نه يې بيماران په پوزَکو کښې ورته راوړل. ۵۶ او هر چرته چې به هغه تلو، کلو، ښارونو، يا بانډو ته، هغوئ به په بازارونو کښې ورته بيماران کښېنول او هغهٔ ته يې مِنت وکړو چې دوئ له دومره اجازت ورکړه چې ستا لمنې له لاس ورووړى، او هر چا چې لاس وروړو، هغه بلکل روغ شول.

## د مشرانو روايات

**۷** ۱ فريسيان او ځينې د شرعې عالمان د يروشلم نه عيسىٰ له راغلل او هغهٔ ته راټول شول. ۲ نو هغوئ وليدل چې د هغهٔ مريدان په ناوينځلو لاسونو روټۍ خورى. ۳ ځکه چې فريسيان او ټول يهوديان د خپلو مشرانو د رواياتو په مطابق هيڅکله هم په ناوينځلو لاسونو روټۍ نهٔ خورى. ۴ کله چې هغوئ د بازار نه راشى تر هغې خوراک نهٔ کوى ترڅو چې يې غسل نهٔ وى کړے، او ډېر نور داسې رِواجونه دى چې هغوئ په کښې د رواياتو پابندى کوى، لکه د پيالو، پَتيلو او د تانبې لوښو وينځل دى. ۵ ځکه فريسيانو او د شرعې عالمانو د هغهٔ نه دا تپوس وکړو چې، ”ستا مريدان ولې په ناوينځلو لاسونو روټۍ خورى او د مشرانو د رواياتو پابندى نهٔ کوى؟“ ۶ هغهٔ جواب ورکړو چې، ”يشعياه نبى ستاسو رياکارانو په حقله په رښتيا سره دا پېشگوئي کړې وه، لکه چې ليکلے شوى دى چې، ”دا خلق تش په خولهٔ زما عزت کوى خو زړونه يې زما نه ډېر لرې دى. ۷ خو دوئ بېفائدې زما عبادت کوى ځکه چې دوئ د انسانانو حُکمونه د مذهبى تعليم په ډول ورکوى.“ ۸ تاسو د خُدائ پاک حُکم خو شاته غورزوئ او د بنى آدمو د رواياتو پابندى کوئ.“ ۹ بيا عيسىٰ هغوئ ته دا هم وفرمائيل چې، ”تاسو په چالاکۍ سره د خُدائ پاک حکم ماتوئ، صرف چې د خپلو رواياتو پابندى وکړئ. ۱۰ ځکه چې موسىٰ وفرمائيل، ”د خپل مور او پلار عزت کوئ،“ او، ”هر څوک چې خپل مور يا پلار ته بدرد وائى هغه دې قتل کړے شى.“ ۱۱ خو کهٔ تاسو مور پلار ته ووايئ چې، زهٔ تاسو له څهٔ نهٔ شم درکولے ځکه چې څهٔ ما تاسو له درکول نو د هغې ما منښته نيولې ده چې د خُدائ پاک په نامه به يې ورکړم، ۱۲ نو هغه نور د مور او پلار د حق نه ببخى بېغمه شو. ۱۳ نو دغه شان تاسو د خپلو رواياتو په وجه د خُدائ پاک حُکمونه منسوخ کوئ او نور ډېر کارونه هم په دې شان کوئ.“

## هغه څيزونه چې بنى آدم پليتوى

۱۴ بيا هغهٔ خلقو ته آواز وکړو او وې فرمائيل چې، ”تاسو ټول زما خبره واورئ او ځان پرې پوهه کړئ. ۱۵ داسې هيڅ څيز نشته چې انسان يې تېر کړى او هغه پرې پليت شى خو هر هغه څيز چې د انسان نه راوځى هغه انسان پليتوى. ۱۶ کهٔ تاسو د اورېدو قابل غوږونه لرئ نو واورئ.“ ۱۷ هر کله چې عيسىٰ د دې خلقو نه بېل شو او کور ته لاړو نو د هغهٔ مريدانو د دې مِثال په حقله د هغهٔ نه تپوس وکړو. ۱۸ هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل، ”ولې تاسو هم لا د نورو په شان ناپوهه يئ؟ ولې تاسو په دې نهٔ پوهېږئ چې څهٔ هم د انسان په بدن کښې د بهر نه دننه شى په دې هغه نهٔ پليتېږى. ۱۹ ځکه چې دا د هغهٔ په زړهٔ کښې نهٔ ننوځى بلکې د هغهٔ خېټې ته لاړ شى او بيا هغه د بدن نه بهر وځى؟“ ځکه هغهٔ ټول خوراکونه پاک گڼل. ۲۰ هغهٔ وړاندې وفرمائيل، ”څهٔ چې د انسان نه راوځى هم هغه انسان پليتوى. ۲۱ ځکه چې د انسان د زړهٔ نه بد خيالونه راوځى، حرام کارى، غلاگانې، قتلونه، زناکارى، ۲۲ حرص، بدى، ټگى، بېشرمى، کينه، غيبت، مغرورتيا او بېوقوفى. ۲۳ دا ټول

بد کارونه د وجود دننه نه راوځی او دا انسان پلیتوی."

## د صورفینکی د علاقې د ښځې عقیده

۲۴ بیا عیسیٰ د هغه ځایه رُخصت شو او د صور سرحد ته لاړو. هلته هغه یو کور ته ورغلو، هغهٔ دا نهٔ غوښتل چې څوک ترې خبر شی، خو هغهٔ خپل ځان پټ نهٔ کړے شو، ۲۵ نو بیا په هغه وخت د یوې ښځې وړه لور چې پیریانو نیولې وه نو څنګه چې هغه د هغهٔ نه خبر شوه، نو زر دننه راغله او د دهٔ په پښو پرېوته. ۲۶ هغه د یونانی نسل او د صورفینکی د علاقې وه. هغې هغهٔ ته مِنت وکړو چې، "زما د لور نه پیریے وشړه." ۲۷ هغهٔ هغې ښځې ته وفرمائیل چې، "اول بچی په خېټه مَړول پکار دی، دا مناسب نهٔ دی چې د ماشومانو برخه روټۍ دې څوک واخلی او سپو ته دې واچوی." ۲۸ هغې ورته ووئیل، "مالِکه، بېشکه خو سپی هم د بچو د مېز د لاندې ټوکړې خوری." ۲۹ هغهٔ هغې ته وفرمائیل، "تا چې دا ووئیل نو بېغمه کور ته لاړه شه، پیریے ستا د لور نه تلے دے." ۳۰ او هر کله چې هغه کور ته راغله نو لور یې په کټ کښې پرته ولیدله او پیریے ترې تلے وو.

## د کُوڼ او چاړا سړی روغول

۳۱ د صور د علاقې نه په واپسی عیسیٰ د صیدا په لارې د دِکپولس په حدونو تېر شو او د ګلیل د دریاب علاقې ته ورسېدلو. ۳۲ نو خلقو هغهٔ له یو کُوڼ سړے راوستو چې چاړا هم وو او منت یې ورته وکړو چې په هغهٔ خپل لاس کېږدی. ۳۳ هغهٔ هغه سړے د خلقو نه یو خوا ته بوتلو، او خپلې ګوتې یې د هغهٔ په غوږونو کښې وردننه کړې او په خپلو لاړو یې د هغهٔ ژبه مسح کړه. ۳۴ بیا یې آسمان ته وکتل او اسویلے یې وکړو او هغهٔ ته یې وفرمائیل، "اِفتح،" یعنې، "پرانستے شه." ۳۵ د دې سره د هغهٔ غوږونه خلاص شول او ژبه یې ګویا شوه. ۳۶ عیسیٰ هغوئ منع کړل، او وې فرمائیل چې چا ته حال مهٔ وایئ. خو هر څومره چې هغهٔ منع کول، دومره به هغوئ خبره خوروله. ۳۷ د هغوئ د حېرانېدو څهٔ حد نهٔ وو. هغوئ ووئیل چې، "دے چې څهٔ هم کوی ډېر یې ښهٔ کوی، تر دې چې هغه کڼو له غوږونه او چاړګانو له ژبې ورکوی."

## څلور زرو کسانو له خوراک ورکول

۸ ۱ په هغه ورځو کښې په یوه بله موقع چې بیا ډېر خلق راجمع شوی وُو او ورسره د خوړلو څهٔ نهٔ وُو، عیسیٰ خپل مریدان راوغوښتل او ورته یې وفرمائیل، ۲ "په دې خلقو زما زړهٔ سوزی، د درېو ورځو راسې زما سره دی او د خوراک دپاره ورسره هیڅ نشته. ۳ کهٔ چرې زهٔ دوئ کورونو ته اوږی رُخصت کړم نو دوئ به په لاره بېهوشه شی ځکه چې ځینې په کښې د لرې نه راغلی دی." ۴ مریدانو جواب ورکړو چې، "په دې خوشی بیابان کښې به څوک دومره خلقو له روټۍ ورکړے شی؟" ۵ عیسیٰ هغوئ نه تپوس وکړو چې، "تاسو سره څو روټۍ دی؟" نو هغوئ جواب ورکړو، "اووهٔ." ۶ نو هغهٔ خلقو ته حُکم ورکړو چې، "په زمکه کښېنئ." بیا هغهٔ هغه اووهٔ روټۍ راواخستلې، د خُدائ پاک شُکر یې پرې وویستو او هغه روټۍ یې ماتې کړې او مریدانو له یې د ویشلو دپاره ورکړې او هغوئ خلقو له ورکړې. ۷ د هغوئ سره یو څو واړهٔ کبان هم وُو چې په هغې یې هم شُکر وویستو او حُکم یې وکړو چې، "دا هم پرې تقسیم کړئ." ۸ هغوئ ټولو خوراک په مړه خېټه وکړو، او د پاتې شوو ټوکړو نه اووهٔ لوئې ټوکرۍ هم ډکې شولې. ۹ خوا او شا خلق څلور زره کسان وُو. او د روټۍ خوړلو نه وروستو یې بیا هغوئ کور ته رُخصت کړل. ۱۰ او سمدستی د خپلو مریدانو سره کِشتۍ ته وختلو او د دلمنوته علاقې ته لاړو.

## د فريسيانو معجزې غوښتل

۱۱ نو بيا فريسيان بهر راووتل او د عيسىٰ سره يې بحث شروع کړو. د آزمېښت په توګه يې ورنه څۀ آسمانى نښه وغوښته.
۱۲ هغۀ د ځان سره يو سوړ اسويلے وکړو او وې فرمائيل چې، ”دا پيړۍ ولې نښه غواړى؟ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې يوه
نښه به هم دې پيړۍ ته ورنۀ کړے شى.“ ۱۳ هغۀ دوئ پرېښودل او بيا کِشتۍ ته وختلو او د درياب پورې غاړې ته لاړو.

## د فريسيانو او د هيروديس خمبيره

۱۴ خو د مريدانو نه د ځان سره روټۍ وړل هېر شوى وُو. په کشتۍ کښې د هغوئ سره صرف يوه روټۍ وه. ۱۵ عيسىٰ
هغوئ له خبردارے ورکړو او وې فرمائيل چې، ”خبردار د فريسيانو او د هيروديس د خمبيرې نه ځان وساتئ.“ ۱۶ هغوئ
په خپلو کښې يو بل ته ووئيل چې، ”دا ځکه چې مونږ سره روټۍ نشته.“ ۱۷ هغه د هغوئ په سوچونو پوهه شو نو تپوس يې
ترې وکړو، ”دا تاسو داسې خبرې ولې کوئ چې ګنې روټۍ درسره نشته؟ ولې تاسو تر اوسه نۀ وينئ او لا تر اوسه نۀ
پوهېږئ څۀ؟ ولې ستاسو زړونه تر اوسه سخت دى څۀ؟ ۱۸ ولې تاسو سترګې خو لرئ، خو تاسو وينئ نه؟ ولې تاسو
غوږونه خو لرئ، خو اورئ نه؟ ولې تاسو ته ياد نۀ دى څۀ؟ ۱۹ کله چې ما پينځۀ روټۍ پينځۀ زره کسانو ته ماتې کړې، نو
تاسو د پاتې شوو ټوکړو نه څومره ډکې ټوکرۍ راټولې کړې وې؟“ هغوئ ورته ووئيل چې، ”دولس.“ ۲۰ ”او چې کله مې
اووۀ روټۍ څلور زرو کسانو ته ماتې کړې، نو تاسو د پاتې شوو ټوکړو نه څومره لوئې ټوکرۍ ډکې کړې وې؟“ نو هغوئ
جواب ورکړو، ”اووۀ.“ ۲۱ نو هغۀ وفرمائيل چې، ”لا تر اوسه هم نۀ پوهېږئ؟“

## په بيتِ‌صيدا کښې د يوړوند سړى بينا کول

۲۲ کله چې هغوئ بيتِ‌صيدا ته ورسېدل نو څۀ خلقو عيسىٰ له يو ړوند سړے راوستو او مِنت يې ورته وکړو چې په هغۀ
خپل لاس کېږدى. ۲۳ بيا هغۀ ړوند سړے د لاسه ونيولو او د کلى نه يې بهر بوتلو. او د هغۀ په سترګو يې لاړې پورې کړې
او لاسونه يې پرې کېښودل او تپوس يې ترې وکړو چې، ”تا ته څۀ ښکارى او کۀ نه؟“ ۲۴ د سړى سترګې بينا شوې او وې
وئيل، ”زۀ خلق وينم خو هغوئ ګرځى راګرځى او د ونو په شان ښکارى.“ ۲۵ عيسىٰ بيا د هغۀ په سترګو لاسونه کېښودل
او د هغۀ سترګې يې کولاو کړې، نو د هغۀ نظر ټيک شو او هر څۀ يې صفا وليدل. ۲۶ بيا عيسىٰ هغه کور ته رُخصت کړو
او ورته يې وفرمائيل چې، ”کور ته د تلو په لار کښې په کلى کښې مۀ ګرځه.“

## د حضرت عيسىٰ په باره کښې د پطروس اِقرار

۲۷ عيسىٰ د خپلو مريدانو سره قيصريه فيليپى ته لاړو. هغۀ په لاره د خپلو مريدانو نه تپوس وکړو چې، ”خلق څۀ وائى چې
زۀ څوک يم؟“ ۲۸ هغوئ جواب ورکړو، ”څوک دې بپتسمه ورکوونکے يحيىٰ، او څوک دې الياس، او څوک دې د نبيانو
نه يو نبى ګڼى.“ ۲۹ هغۀ د هغوئ نه تپوس وکړو چې، ”تاسو څۀ وايئ چې زۀ څوک يم؟“ پطروس جواب ورکړو چې، ”تۀ
مسيح يې.“ ۳۰ بيا هغۀ هغوئ په سختۍ سره منع کړل چې، د هغۀ په حقله هيچا ته مۀ وايئ.

## د حضرت عيسىٰ د خپل مرګ او بيا ژوندى کېدو په حقله پېشګوئي کول

۳۱ بيا يې هغوئ ته تعليم شروع کړو چې، ”اِبن آدم به خامخا ډېرې سختۍ وزغمى مشران او مشران اِمامان او د شرعې

عالمان به یې رد کړی او هغه به ووژلے شی، او په درېمه ورځ به راژوندے شی.“ ۳۲ هغهٔ دا خبره په صفا ټکو کښې
ووئیله. بیا پطروس هغه د لاس نه ونیوو او یوې خوا ته یې بوتلو او د داسې خبرو نه یې منع کړو. ۳۳ خو عیسیٰ مخ
راواړولو، خپلو مریدانو ته یې وکتل او پطروس یې ورټلو. او ورته یې وفرمائیل چې، ”رانه لرې شه شیطانه، تهٔ د بنی آدمو په
شان سوچ کوې، نه چې د خُدائ پاک په شان.“ ۳۴ هغهٔ خلق او خپل مریدان راوبلل او هغوئ ته یې وفرمائیل، ”کهٔ څوک
زما مریدان جوړېدل غواړی، هغه دې د خپل ځان نه منکر شی، خپله سولئ دې راواخلی او ما پسې دې راځی. ۳۵ څوک
چې خپل ځان ساتل غواړی هغه به یې بائیلی، خو څوک چې د زیری او زما د خاطره خپل ژوند بائیلی، نو هغه به یې بچ
کړی. ۳۶ کهٔ څوک د خپل ابدی ژوند په بدله کښې ټوله دُنیا ومومی نو هغهٔ ځان ته څهٔ فائده حاصلوی؟ ۳۷ یا د خپل
ژوند په بدله کښې هغه څهٔ ورکولے شی؟ ۳۸ په دې زناکاره او ګناهګاره زمانه کښې څوک چې په ما او زما په کلام
شرمیږی، نو اِبن آدم به هم د هغوئ نه وشرمیږی کله چې هغه د خپل پلار جلال کښې د پاکو فرښتو سره راشی.“

٩ ۱ او عیسیٰ هغوئ ته وفرمائیل چې، ”زهٔ تاسو ته رښتیا وایم چې دلته ځینې داسې کسان ولاړ دی چې هغوئ به تر هغې
نهٔ مری ترڅو چې د خُدائ پاک بادشاهی په قدرت سره په راتلو ونهٔ وینی.“

## د حضرت عیسیٰ شکل بدلېدل

۲ شپږ ورځې پس عیسیٰ د ځان سره پطروس یعقوب او یوحنا روان کړل او یو اوچت غرهٔ ته یې وخېژول او د هغوئ په
وړاندې د هغهٔ شکل بدل کړے شو. ۳ د هغهٔ جامې بربېښېدونکې سپینې شوې، داسې سپینې چې د زمکې په مخ داسې چا
نهٔ شوې سپینولے. ۴ نو هغوئ ته هلته الیاس او موسیٰ ښکاره شو چې د عیسیٰ سره یې خبرې کولې. ۵ نو پطروس
عیسیٰ ته ووئیل چې، ”مالِکه، زمونږ دپاره دلته پاتې کېدل څومره ښهٔ دی. مونږ له اجازه راکړه چې درې جونګړې جوړې
کړُو، یوه ستا دپاره، یوه د موسیٰ دپاره او یوه د الیاس دپاره.“ ۶ هغه نور نهٔ پوهېدو چې څهٔ ووائی ځکه چې هغوئ ټول
یرې اخستی وُو. ۷ بیا یوه وریځ راخوره شوه او په هغوئ یې سورے وکړو او د وریځې نه یو آواز راغلو، ”دا زما محبوب
زوئ دے. د هغهٔ خبرې واورئ.“ ۸ ناګهانه چې کله هغوئ ګېرچاپېره نظر واچولو نو څوک یې هم ونهٔ لیدل خو صرف
عیسیٰ د هغوئ سره پاتې وو. ۹ نو کله چې هغوئ د غرهٔ نه راکوزېدل نو عیسیٰ هغوئ ته حکم ورکړو چې، ”دا هر څهٔ چې
مو ولیدل د دې په حقله تر هغې چا ته څهٔ مهٔ وایئ ترڅو چې اِبن آدم د مړو نه بیا ژوندے پورته کړے شوے نهٔ وی.“ ۱۰
هغوئ دا خبره ځان سره وساتله او په خپلو کښې یې بحث کولو چې د مړو نه د بیا راپاڅېدلو څهٔ مطلب کېدے شی. ۱۱
نو هغوئ د هغهٔ نه تپوس وکړو چې، ”بیا زمونږ د شرعې عالمان دا ولې وائی چې الیاس به ضرور وړومبے راځی؟“ ۱۲
هغهٔ جواب ورکړو، ”آو، الیاس به وړومبے راځی چې هر څیز سم کړی، خو په صحیفو کښې لیکلی دی چې په اِبن آدم به
ډېرې سختئ تېرې شی او په سپک نظر به ورته وکتلے شی. ۱۳ خو زهٔ تاسو ته وایم چې الیاس خو راغلے دے او هر څهٔ
چې د هغوئ خوښ وُو هغه یې ورسره کړی هم دی لکه چې د هغهٔ په حقله صحیفو فرمائیلی وُو.“

## د پیریانو نیولے هلک جوړول

۱۴ چې هغوئ مریدانو ته واپس راغلل نو ګڼ خلق یې ورسره ولیدل چې په کښې د شرعې عالمان هم وُو او بحث یې
ورسره کولو. ۱۵ هر کله چې هغوئ عیسیٰ ولیدلو نو ټول خلق حیران شول او په منډه هغهٔ له ستړی مشی له ورغلل. ۱۶
هغهٔ تپوس ترې وکړو چې، ”دا د څهٔ بحث روان دے؟“ ۱۷ په ګڼه کښې یو سړی جواب ورکړو، ”اُستاذه، ما خپل زوئ تا

له راوستے دے. هغه پیریانو نیولے دے چې ورنه خبرې نۀ شی کولے. ۱۸ کله چې پرې چپه راشی نو په زمکه یې راوولی او په خولۀ یې ځګونه راشی، غاښونه چیچی، او بدن یې اېغ نېغ شی. ما ستا مریدانو ته خواست وکړو چې دا ترې نه وباسئ خو هغوئ پاتې راغلل." ۱۹ عیسیٰ جواب ورکړو، "اے بې‌ایمانه پیړی، زۀ به ترڅو تاسو سره یم او زۀ به ترڅو تاسو زغمم؟ دے ما له راولئ." ۲۰ نو هغوئ هغه هلک هغۀ له راوستو. او څۀ وخت چې پیری هغه ولیدو نو د هغۀ وجود یې تاو راتاو کړو او هغه په زمکه پرېوتو، ورغړېدو او په خولۀ یې ځګونه راغلل. ۲۱ عیسیٰ د هغۀ د پلار نه تپوس وکړو چې، "څومره موده کیږی چې دے په دې حال دے؟" هغۀ جواب ورکړو چې، "د وړوکوالې راسې. ۲۲ څو ځله یې د هلاکولو دپاره اور او اوبو ته هم غورزولے دے، او کۀ ته څۀ کولے شې نو په مونږ رحم وکړه او مدد راسره وکړه." ۲۳ عیسیٰ ورته وفرمائیل چې، "ته ولې داسې وائې چې کۀ ته څۀ کولے شې؟ د چا چې پوره ایمان وی د هغۀ دپاره هر څۀ ممکن دی." ۲۴ د هلک پلار چغې کړې چې، "زۀ ایمان لرم، خو زما کمزورے ایمان مضبوط کړه." ۲۵ کله چې عیسیٰ ولیدل چې ګڼ خلق رانزدې کیږی نو هغۀ هغه پیرے ورټلو. هغۀ وفرمائیل، "اے ګونګا او کُوڼ پیریه، زۀ درته حکم کوم، چې د دۀ نه راوځه او بیا کله هم مۀ ورننوځه." ۲۶ هغۀ په زوره چغې کړې او ډېر یې تاو راتاو کړو او بیا پیرے ترې ووتو او هلک لکه د مړی په شان پرېوتو، بلکې ډېرو وئیل چې، "دے مړ دے." ۲۷ خو عیسیٰ هغه د لاسه ونیولو او په پښو یې ودرولو او هغه ودرېدو. ۲۸ بیا عیسیٰ دننه لاړو او د هغۀ مریدانو ترې ځان له تپوس وکړو چې، "دا مونږ ولې نۀ شُو شړلے؟" ۲۹ هغۀ ورته وفرمائیل، "دا قِسم صرف او صرف د دُعا په وسیله شړلے کیږی."

### د حضرت عیسیٰ په دویم ځل د خپل مرګ او د راژوندی کېدلو په حقله پېشګوئې کول

۳۰ بیا هغوئ د هغې علاقې نه لاړل او د ګلیل نه واوړېدل. عیسیٰ دا غوښتل چې هیڅوک پرې خبر نۀ شی چې چرته دی، ۳۱ ځکه چې هغۀ خپلو مریدانو له تعلیم ورکولو او ورته یې وفرمائیل چې، "اِبن آدم به د دشمنانو لاسونو ته حواله کړے شی. هغوئ به دے قتل کړی، خو د مرګ نه درې ورځې پس به هغه بیا راژوندے شی." ۳۲ خو هغوئ د هغۀ په خبره نۀ پوهېدل او د یرې نه یې تپوس ترې هم نۀ شو کولے.

### د ټولو نه لوئ څوک دے؟

۳۳ هغوئ بیا کفرنحُوم ته راغلل کله چې عیسیٰ په کور کښې دننه وو نو د هغوئ نه یې تپوس وکړو چې، "تاسو په لار کښې د څۀ په حقله بحث کولو؟" ۳۴ خو هغوئ غلی وُو، ځکه چې په لار کښې هغوئ د یو بل سره دا بحث وکړو چې د ټولو نه لوئ څوک دے. ۳۵ هغه کښېناستو او هغه دولس مریدان یې راوغوښتل او ورته یې وفرمائیل، "کۀ څوک دا غواړی چې د ټولو نه اول شی نو هغه دې ځان د ټولو نه وروستو کړی او د ټولو خادِم دې شی." ۳۶ بیا هغۀ یو ماشوم د لاسه ونیولو او د هغوئ په وړاندې یې ودرولو او خپله غېږه یې ترې تاو کړه او ورته یې وفرمائیل، ۳۷ "څوک چې زما په نوم داسې ماشوم قبول کړی هغه ما قبلوی او څوک چې ما قبلوی هغه ما نه، بلکې هغه څوک قبلوی چې زۀ یې رالېږلے یم."

### هغه څوک چې زمونږ خلاف نۀ دے زمونږ ملګرے دے

۳۸ یوحنا هغۀ ته ووئیل، "اُستاذه، مونږ یو سړے ولیدو چې ستا په نوم پیریان شړی، او مونږ د هغۀ د منع کولو کوشش وکړو ځکه چې هغه زمونږ نه نۀ وو." ۳۹ خو عیسیٰ هغۀ ته وفرمائیل، "هغه مۀ منع کوئ ځکه چې داسې هیڅوک نشته چې زما په نوم معجزې ښکاره کوی او بیا به په ما پسې بد وائی. ۴۰ خو هر څوک چې زمونږ خلاف نۀ دے هغه زمونږ ملګرے

دے. (۴۱) زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې کۀ څوک هم تاسو ته په دې نيت يو جام اوبۀ درکړی چې تاسو د مسيح مريدان يئ نو
هغه کس به يقيناً بې‌اجره پاتې نۀ شی.

### د ګناه لمسون

(۴۲) او هر څوک چې له دې وړو نه چې په ما ايمان لری، د هغوئ په لار کښې خنډونه جوړوی نو دا به د هغۀ دپاره غوره
وی چې د هغۀ په غاړه کښې د ژرندې پل واچولے شی او په درياب کښې وغورزولے شی. (۴۳-۴۴) کۀ ستا لاس تا ګناه ته
ولمسوی نو ځان نه يې پرې کړه، ځکه چې ستا دپاره دا غوره ده چې په ابدی ژوندون کښې د يو بوډی لاس سره داخل
شې، نۀ دا چې دواړه لاسونه دې سم وی او دوزخ ته لاړ شې چرته چې نۀ مړ کېدونکے اور دے. (۴۵-۴۶) او کۀ ستا پښه تا
ګناه ته ولمسوی نو ځان نه يې پرې کړه ځکه چې ستا دپاره دا ښۀ ده چې په ابدی ژوندون کښې په يوه پښه شل داخل شې
نۀ دا چې دواړه پښې دې سمې وی او دوزخ دې ځائ شی. (۴۷) او کۀ ستا سترګه تا ګناه ته ولمسوی نو وې باسه. ستا
دپاره به دا غوره وی چې د خُدائ پاک په بادشاهئ کښې په يوه سترګه داخل شې، نۀ دا چې دواړه سترګې دې وی او دوزخ
ته وغورزولے شې، (۴۸) چرته چې چينجی چرې نۀ مری او اور يې نۀ مړ کيږی. (۴۹) هر څوک به په اور سره مالګين کيږی.
(۵۰) مالګه ښۀ څيز دے، خو کۀ مالګه بې‌خونده شی نو بيا به څنګه دوباره مالګينه شی؟ په خپلو کښې مالګه وساتئ او د يو
بل سره په صُلح اوسئ.“

### د طلاق په باب کښې تعليم

۱۰ (۱) عيسیٰ د هغه ځائ نه بيا روان شو نو يهوديه او اُردن د سيند پورې غاړې ته لاړو، او ډېر خلق بيا ترې راچاپېره
شُو. او د خپل عادت په مطابق هغۀ بيا هغوئ ته تعليم شروع کړو. (۲) نو څينې فريسيان راغلل او ترې د آزمېښت په طور
يې دا تپوس وکړو، ”ولې يو سړی له دا روا دی چې خپله ښځه طلاقه کړی؟“ (۳) هغۀ په جواب کښې ترې تپوس وکړو چې،
”موسیٰ تاسو ته څۀ حُکم کړے وو؟“ (۴) هغوئ جواب ورکړو چې، ”موسیٰ سړی ته دا اجازت ورکړے دے چې طلاق
نامه دې وليکی او ښځه دې پرېږدی.“ (۵) عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل چې، ”دا حُکم هغۀ ستاسو د زړۀ د سختوالی په وجه
وليکلو. (۶) خو د دُنيا د شروع نه ”خُدائ پاک هغوئ نر او ښځه پيدا کړل.“ (۷) ”په دې وجه به سړے خپل مور پلار
پرېږدی او د خپلې ښځې سره به يو ځائ شی. (۸) او دا دواړه به يو بدن شی.“ نو بيا نور دوئ دوه نه خو يو بدن وی. (۹)
نو په دې وجه څوک چې خُدائ پاک يو ځائ کړی دی نو بنی آدم دې يې نۀ جدا کوی.“ (۱۰) نو بيا چې دوئ کور ته ننوتل
نو مريدانو ترې په دې حقله تپوس وکړو. (۱۱) هغۀ هغوئ ته وفرمائيل، ”هر څوک چې خپله ښځه طلاقه کړی او د بلې سره
وادۀ وکړی نو هغه د اولنۍ ښځې خلاف زنا کوی. (۱۲) او دغه شان کۀ يوه ښځه خاوند له طلاق ورکړی او بل سره وادۀ
وکړی نو هغه هم زنا کوی.“

### ماشومانو له برکت ورکول

(۱۳) بيا خلقو د دې دپاره عيسیٰ له ماشومان راوستل چې د برکت دپاره لاس پرې کېږدی خو مريدانو هغوئ ورټل. (۱۴) خو
کله چې عيسیٰ دا وليدل نو خفه شو او هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”ماشومان ما ته راپرېږدئ، دوئ مۀ منع کوئ ځکه چې د
خُدائ پاک بادشاهی هم د داسې خلقو ده. (۱۵) زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې هر څوک چې د خُدائ پاک بادشاهی د ماشوم په

شان قبوله نهٔ کړی هغه به په کښې هيڅکله هم ورداخل نهٔ شی." ۱۶ هغهٔ هغوئ په غېږ کښې اوچت کړل، په سر يې ورله
لاس کېښودو او برکت يې ورکړو.

### دولتمند سړے

۱۷ عيسیٰ بيا په سفر روانېدو چې يو سړی رامنډه کړه او د هغهٔ په وړاندې په گوډو شو او تپوس يې وکړو، "اے نېکه
اُستاذه. زهٔ داسې څهٔ وکړم چې د ابدی ژوندون وارث شم؟" ۱۸ عيسیٰ هغهٔ ته وفرمائيل، "تهٔ ما ته نېک ولې وائې؟ د خُدائ
پاک نه بغېر بل هيڅوک نېک نشته. ۱۹ تا ته د خُدائ پاک حُکمونه معلوم دی چې، قتل مهٔ کوه، زنا مهٔ کوه، غلا مهٔ کوه، د
دروغو گواهی مهٔ کوه، ټگی مهٔ کوه او د خپل مور پلار عزت کوه." ۲۰ هغهٔ جواب ورکړو، "اُستاذه. ما د ځوانئ نه په دې
هر څهٔ عمل کړے دے." ۲۱ بيا عيسیٰ هغهٔ ته وکتل، په هغهٔ يې مينه راغله او ورته يې فرمائيل چې، "په تا کښې د يو څيز
کمے دے، لاړ شه خپل ټول مال حال خرڅ کړه او خوارانو له يې ورکړه، نو بيا به تهٔ د آسمان خزانې ومومې. بيا راځه، او
په ما پسې شه." ۲۲ کله چې هغهٔ دا خبره واورېده نو خفه زهير لاړو ځکه چې هغه ډېر مالداره سړے وو. ۲۳ عيسیٰ
گېرچاپېره خپلو مريدانو ته وکتل او ورته يې وفرمائيل، "د يو مالداره دپاره د خُدائ پاک په بادشاهئ کښې داخلېدل څومره
گران کار دے." ۲۴ مريدان د هغهٔ په دې خبره حق حېران شول خو عيسیٰ په دويم ځل وفرمائيل، "بچو، د خُدائ پاک په
بادشاهئ کښې داخلېدل څومره گران کار دے. ۲۵ د يو مالداره سړی په نسبت د خُدائ پاک په بادشاهئ کښې داخلېدل د
يو اوښ دپاره د ستنې په سوری کښې تېرېدل آسان دی." ۲۶ هغوئ د مخکښې نه هم زيات حق حېران شول او يو بل ته يې
ووئيل، "نو بيا به څوک خلاصون ومومی؟" ۲۷ عيسیٰ هغوئ ته وکتل او وې فرمائيل، "د بنی آدم دپاره خو دا ناممکنه ده
خو خُدائ پاک ته هر څهٔ ممکن دی." ۲۸ بيا پطروس وئيل شروع کړل، "گوره، مونږ خو د دې دپاره هر څهٔ پرېښی دی
چې تا پسې روان شو." ۲۹ عيسیٰ ورته وفرمائيل، "زهٔ تاسو ته دا وايم چې چا چې زما او زما د زيری د خاطره کور،
ورونړه، خوېندې، مور پلار، اولاد يا زمکه پرېښې وی، ۳۰ نو چې هغوئ ته به په دې دُنيا کښې يو په سل اجر ورکړے شی،
کورونه، ورونړه، خوېندې، ميندې، اولاد او زمکه، او ورسره ربړېدل، او په آخرت کښې به د تل ژوندون بيا مومی. ۳۱ خو
ډېر اول به آخر کړے شی او آخر به اول کړے شی."

### په دريم ځل د حضرت عيسیٰ د خپل مرگ او د بيا ژوندی کېدو په باب کښې پېشگوئې کول

۳۲ دوئ د يروشلم په لار روان وُو او عيسیٰ ترې وړاندې وو. او مريدان حېران شوی وُو او څوک چې ورپسې روان وُو
هغوئ يرېدل. هغهٔ هغه دولس مريدان ځان له کړل او ورته يې وضاحت وکړو چې هغهٔ ته څهٔ پېښېدونکی دی. ۳۳ هغهٔ ورته
وفرمائيل، "مونږ اوس يروشلم ته ځو او اِبن آدم به مشرانو اِمامانو او د شرعې عالمانو ته حواله کړے شی. هغوئ به پرې د
مرگ حُکم وکړی او غېريهوديانو ته به يې حواله کړی. ۳۴ په هغهٔ پورې به ملنډې وکړے شی او توکانې به پرې وتُوکلے
شی، په کوړو به ووهلے شی او قتل به يې کړی، خو درې ورځې پس به هغه بيا ژوندے پاځی."

### د يوحنا او يعقوب عرض

۳۵ د زبدی زامن يعقوب او يوحنا هغهٔ له ورغلل او ورته يې ووئيل، "اُستاذه مونږ چې ستا نه څهٔ هم غواړو هغه زمونږ
دپاره وکړه." ۳۶ هغهٔ ورته وفرمائيل چې، "تاسو څهٔ غواړئ چې زهٔ يې درله وکړم؟" ۳۷ هغوئ جواب ورکړو، "مونږ له دا
اجازت راکړه چې مونږ هم ستا په لوئ کښې تا سره، يو ستا ښی لاس ته او بل گس لاس ته يو ځائ کښېنو." ۳۸ عيسیٰ

هغوئ ته وفرمائيل، "تاسو چې څۀ غواړئ په هغې نۀ پوهېږئ. کوم د مصيبتونو کنډول به چې زۀ څښم ولې تاسو به هغه وڅښلے شئ؟ يا به هغه بپتسمه واخستلے شئ چې به پرې زما بپتسمه کېږى؟" ۳۹ هغوئ جواب ورکړو چې، "آو، مونږ يې څښلے شُو." بيا عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، "کوم کنډول چې زۀ څښم، تاسو به يې وڅښئ، او په کومه بپتسمه چې به زما بپتسمه کېږى، په هغې به ستاسو بپتسمه هم وشى. ۴۰ خو دا زما په اختيار کښې نۀ دى چې خپل ښى او ګس لاس ته څوک کښېنوم، خو دا د هغه چا دے د چا دپاره چې دا تيار کړے شوے دے." ۴۱ هر کله چې نورو لسو دا واورېدل نو هغوئ يعقوب او يوحنا ته غصه شول. ۴۲ عيسىٰ هغوئ ځان ته راوبلل او ورته يې وفرمائيل، "تاسو ته پته ده چې د قومونو حکمرانان په خپلو خلقو باندې رُعب اچوى او د هغوئ لوئ آفسران په هغوئ باندې د خپل اختيار غلط استعمال کوى. ۴۳ خو ستاسو دپاره داسې نۀ دى. په تاسو کښې چې څوک مشرى غواړى هغه دې ستاسو خادِم شى. ۴۴ او هر هغه څوک چې په تاسو کښې مشر کېدل غواړى هغه دې په خپله خوښه د ټولو خادِم شى. ۴۵ ځکه چې اِبن آدم د دې دپاره رانۀغلو چې د هغۀ خِدمت دې وکړے شى خو د دې دپاره راغلو چې د نورو خِدمت وکړى او خپل ژوند د ډېرو دپاره فديه کړى."

## د ړوند برتماى بينا کول

۴۶ خو هغوئ يريحو ته راغلل او کله چې عيسىٰ او د هغۀ مريدان د ښارېې نه ووتل نو ګڼ خلق ورپسې وُو، نو يو ړوند فقير د تمائ زوئ برتماى څوک چې د لارې په غاړه ناست وو، ۴۷ نو کله چې هغه په دې خبر شو چې دا عيسىٰ ناصرى دے نو هغۀ چغې کړې، "اے عيسىٰ د داؤد زويه، په ما رحم وکړه." ۴۸ ډېرو خلقو ورته په سختئ ووئيل چې، "چپ شه." خو هغۀ لا نورې هم چغې زياتې کړې، "اے د داؤد زويه. په ما رحم وکړه." ۴۹ عيسىٰ ودرېدلو او وې فرمائيل، "دے دلته راولئ." نو هغوئ هغه ړوند سړے راوستو او ورته يې ووئيل، "پاڅه، زړَور شه، هغه دې غواړى." ۵۰ په دې هغۀ خپله چُوغه وغورزوله، سمدستى پورته شو او عيسىٰ له راغلو. ۵۱ عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل، "تۀ څۀ غواړې چې زۀ يې ستا دپاره وکړم؟" هغه ړوند سړى جواب ورکړو، "اُستاذه، زۀ بيا خپل نظر غواړم." ۵۲ عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل، "لاړ شه، خپل ايمان تۀ روغ کړې،" نو سمدستى هغه بينا شو او عيسىٰ پسې روان شو.

## په يروشلم کښې د حضرت عيسىٰ کاميابه استقبال

**۱۱** ۱ هغوئ چې يروشلم ته رانزدې شول او چې بيتِ‌فګے او بيتِ‌عنياه ته د زيتُونو غرۀ ته ورسېدل نو عيسىٰ خپل دوه مريدان د دې هداياتو سره ولېږل، ۲ "دې مخامخ کلى ته ورشئ. نو چې څنګه ورننوځئ نو تاسو به يو کوچانے تړلے وموئ چې تر اوسه پرې هيچا لا سورلى نۀ ده کړې. هغه پرانيزئ او دلته يې راولئ. ۳ کۀ څوک درنه تپوس وکړى چې دا څۀ کوئ؟ نو ورته ووايئ چې زمونږ د مالِک دا په کار ده او هغه به يې سمدستى دلته واپس راولېږى." ۴ هغوئ لاړل او د دروازې نه بهر يې په کوڅه کښې هغه کوچانے تړلے ومونډلو. هغوئ هغه پرانستو، ۵ او په ولاړو خلقو کښې ځينو ورته ووئيل چې، "دا څۀ کوئ؟ تاسو دا کوچانے ولې پرانيزئ؟" ۶ نو هغوئ هغه جواب ورکړو څۀ چې ورته عيسىٰ فرمائيلى وُو، نو بيا يې هغوئ پرېښودل چې بو يې ځى. ۷ نو هغوئ عيسىٰ له کوچانے راوستو او خپلې جامې يې پرې واچولې او هغه پرې سور شو. ۸ او ډېرو خلقو ورته په لارو کښې خپلې جامې وغوړولې او نورو د پټو نه څانګې پرېکړلې او ورته يې خورې کړلې. ۹ او څومره خلق چې مخکښې تلل او هغه چې وروستو راتلل، نو بيا څوک چې د هغۀ نه وړاندې تلل او څوک چې ورپسې روان وُو هغوئ چغې ويستلې چې، "اُمبارکى د هغه چا چې د مالِک خُدائ په نوم راځى. ۱۰ زمونږ د پلار نيکۀ داؤد راتلونکې بادشاهى دې مبارکه وى. په آسمان کښې دې په هغۀ مبارکى وى." ۱۱ هغه يروشلم ښار ته راغلو او

د خُدائ کور ته ورننوتو او ګېرچاپېره يې وکتل، خو ماښام ناوخته هغه د دولسو مريدانو سره بيتِعنياه ته لاړو.

## د اينځر په ونې لعنت کول

۱۲ په بله ورځ چې هغوئ د بيتِعنياه نه ووتل نو عيسیٰ اوږے شوے وو. ۱۳ او د لرې نه يې چې د اينځر يوه ونه وليده نو ورغلو چې هغه په کښې څۀ پېدا کړی. خو کله چې هغه ورغے نو د پاڼو نه بغېر يې په کښې هيڅ ونۀ موندل ځکه چې دا د اينځرو موسم نۀ وو. ۱۴ هغه ونې ته يې وفرمائيل چې، "بيا به هيڅوک هم هيڅکله ستا نه مېوه ونۀ خوری." او د هغۀ مريدانو دا واورېدل.

## د خُدائ پاک د کور پاکول

۱۵ کله چې هغوئ يروشلم ته راغلل نو عيسیٰ بيا د خُدائ کور ته ورننوتو او هغه ټول خلق چې د خُدائ په کور کښې يې سوداګری کوله وشړل. او هغه د صرافانو تختې او د کونترو د خرڅوونکو کُرسۍ يې نسکورې کړې. ۱۶ او د خُدائ د کور په دربار کښې هغۀ د تجارت د څيزونو وړل راوړل نۀ پرېښودل. ۱۷ نو بيا يې هغوئ ته تعليم شروع کړو او وې فرمائيل، "ولې صحيفې دا نۀ وائی چې، زما کور به د ټولو قومونو دپاره د دُعا کور بللے شی؟ خو تاسو ترې د ډاکوانو اډه جوړه کړې ده." ۱۸ مشرانو اِمامانو او د شرعې عالمانو چې دا واورېدل نو کوشش يې کولو چې هغه په څۀ چل هلاک کړی خو هغوئ يرېدل ځکه چې ټول خلق د هغۀ د تعليم نه ډېر متاثره وُو.

## د اينځر د وچې شوې ونې سبق

۱۹ او چې ماښام شو نو عيسیٰ او د هغۀ مريدان د ښار نه بهر ووتل. ۲۰ بله ورځ سحر وختی چې هغوئ په لاره تېرېدل نو هغوئ وليدل چې هغه د اينځر ونه له بېخ نه اوچه شوې ده. ۲۱ پطروس هغه خبره راياده کړه کومه چې عيسیٰ پرون د اينځر ونې ته کړې وه نو هغۀ ووئيل، "اُستاذه، وګوره د اينځر په کومه ونه چې تا لعنت کړے وو هغه اوچه شوې ده." ۲۲ عيسیٰ ورته جواب ورکړو چې، "په خُدائ پاک ايمان ساتئ. ۲۳ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې کۀ څوک دې غر ته ووائی چې د دې خپل ځايه اوچت شه او سمندر کښې وغورزېږه، او په زړۀ کښې يې شک نۀ وی او ايمان ساتی، نو هر څۀ چې وائی هغه به د هغۀ دپاره وشی. ۲۴ ځکه زۀ تاسو ته وايم، تاسو چې د څۀ دپاره هم دُعا کوئ نو ايمان ساتئ چې دا تاسو حاصل کړو نو هغه به ستاسو شی. ۲۵-۲۶ او هر کله چې تاسو دُعا ته ودرېږئ نو کۀ ستاسو په زړۀ کښې د چا خلاف خبرې وی، نو هغه معاف کړئ، د دې دپاره چې ستاسو آسمانی پلار به ستاسو نافرمانی معاف کړی."

## د حضرت عيسیٰ د اختيار په حقله سوال

۲۷ هغوئ يو ځل بيا يروشلم ته راغلل او کله چې عيسیٰ د خُدائ په کور کښې ګرځېدو نو مشران اِمامان، د شرعې عالمان او د قوم مشران ورته راغلل، ۲۸ او ورته وې وئيل، "تۀ دا کارونه په کوم اختيار کوې؟ او دا اختيار تا له چا درکړے دے چې تۀ داسې کوې؟" ۲۹ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل، "زۀ هم ستاسو نه يو تپوس کوم، تاسو يې جواب راکړئ نو زۀ به هم تاسو ته دا وښايم چې په کوم اختيار زۀ دا کارونه کوم. ۳۰ د يحيیٰ بپتسمه د آسمان د لوری وه او کۀ د انسان نه؟ جواب راکړئ." ۳۱ په دې هغوئ د يو بل سره په بحث شول چې، "موږ څۀ ووايو؟ کۀ چرې موږ ووايو چې له آسمان نه، نو هغه

به راته ووائی چې بيا تاسو په هغهٔ ايمان ولې رانهٔ وړو؟ (۳۲) او کهٔ مونږ وايو چې د انسانانو نه، نو بيا به څهٔ وشی؟" دوئ د
خلقو نه يرېدل ځکه چې د ټولو خلقو دا ايمان وو چې يحيىٰ نبی وو. (۳۳) نو ځکه هغوئ جواب ورکړو چې، "مونږ خبر نهٔ
يُو." او عيسىٰ ورته وفرمائيل چې، "بيا به زهٔ هم درته ونهٔ وايم چې زهٔ په کوم اختيار دا کارونه کوم."

## د انګورو باغ او د باغوانانو مِثال

۱۲ (۱) عيسىٰ هغوئ ته بيا په مِثالونو کښې خبرې شروع کړې. "يو سړی د انګورو باغ ولګولو او ګېرچاپېره يې دېوال
ترې تاو کړو او په کښې يې د انګورو لنګرئ ولګوله او د څوکيدارۍ دپاره يې په کښې يو برج جوړ کړو. او بيا يې زميندارانو
ته په اجاره ورکړو او بل مُلک ته لاړو. (۲) کله چې د انګورو موسم راغلو نو هغهٔ اجاره دارو له يو نوکر ورولېږلو چې د
هغوئ نه د هغهٔ د پېداوار برخه وصول کړی. (۳) خو هغوئ هغه ونيولو، وې وهلو او تش لاس يې واپس ولېږلو. (۴) بيا هغهٔ
يو بل نوکر ورولېږلو او دے هم هغوئ په سر سر وټکولو او بې‌عزته يې کړو. (۵) بيا هغهٔ يو بل ورولېږلو او هغه دوئ مړ
کړو. او د دهٔ نه علاوه داسې نور هم وُو، څوک يې چې ووهل او ځينې يې مړهٔ کړل. (۶) اوس د دهٔ سره يو کس پاتې وو، د
هغهٔ خپل نيازبين زوئ. په آخر کښې يې هغه ورولېږلو. هغهٔ ووئيل چې زما د زوئ احترام خو به وکړی. (۷) خو اجاره دارو
يو بل ته ووئيل چې هم دغه خو وارث دے، راځئ چې مړ يې کړو او ميراث به يې زمونږ شی. (۸) نو هغوئ هغه ونيولو او
مړ يې کړو او د هغهٔ لاش يې د باغ نه بهر وغورزولو. (۹) نو د انګورو د باغ مالِک به د هغوئ سره څهٔ سلوک وکړی؟ هغه به
راشی او دا ټول اجاره دار به مړهٔ کړی او د انګورو باغ به بل چا له ورکړی. (۱۰) ولې تاسو په مقدس کِتاب کښې دا چرې
نهٔ دی لوستی؟ کوم کاڼے چې کِلکارانو رد کړے وو هم هغه د ګوټ سر کاڼے شو. (۱۱) دا د مالِک خُدائ کارونه دی او دا
زمونږ په نظر کښې عجيبه ښکاری." (۱۲) بيا هغوئ داسې څهٔ بهانه لټوله چې هغه ګرفتار کړی ځکه چې هغوئ پوهېدل چې
دے دا مِثال د هغوئ په خلاف ورکوی، خو هغوئ د خلقو نه يرېدل نو هغوئ هغه پرېښودو او ترې لاړل.

## د روم قيصر له محصُول ورکول

(۱۳) بيا هغوئ څو فريسيان او هيروديان ورولېږل چې عيسىٰ په خپلو خبرو کښې راګېر کړی. (۱۴) هغوئ راغلل او ورته يې
ووئيل، "اُستاذه، مونږ خبر يُو چې تهٔ يو رښتينے سړے يې او د هيچا طرفداری نهٔ کوې، کهٔ هغه هر څوک هم وی، خو تهٔ د
خُدائ پاک د لارې تعليم په رښتيا سره ورکوې. ولې مونږ ته دا روا دی چې د روم قيصر ته محصُول ورکړُو او کهٔ نه؟ ولې
مونږ هغوئ ته ورکړُو او کهٔ ور يې نهٔ کړُو؟" (۱۵) خو هغه د دوئ په منافقت پوهه شو او ورته يې وفرمائيل، "تاسو ولې زما د
راګېرولو کوشش کوئ؟ ما له د سپينو زرو يوه سيکه راوړئ چې زهٔ ورته وګورم." (۱۶) هغوئ يوه سيکه راوړه او هغهٔ هغوئ
ته وفرمائيل چې، "په دې د چا تصوير او د چا نوم دے؟" هغوئ جواب ورکړو، "دا د قيصر دے." (۱۷) بيا عيسىٰ هغوئ ته
وفرمائيل، "څهٔ چې د قيصر وی هغه قيصر له ورکړئ او څهٔ چې د خُدائ پاک وی هغه خُدائ پاک له ورکړئ." هغوئ د دهٔ
په خبرو حق حېران شول.

## د قيامت په باب کښې سوال

(۱۸) بيا ځينې صدوقيان څوک چې د قيامت نه منکر دی هغهٔ له راغلل او د هغهٔ نه يې داسې تپوس وکړو چې، (۱۹) "اُستاذه،
موسىٰ مونږ ته دا ښودلی دی چې کهٔ د چا ورور مړ شی او ښځه يې پاتې شی او بچی يې نهٔ وی نو بل ورور دې هغه کونډه

وادۀ کړی او د هغۀ نسل دې پيدا کړی. ۳۰ نو اوس اووۀ وروڼه وُو، وړومبی وادۀ وکړو او بې‌اولاده مړ شو. ۳۱ بيا هغه ښځه دوېم وادۀ کړه او هغه هم بې‌اولاده مړ شو او دغه شان درېم وکړل. ۳۲ آخر اووۀ واړه مړۀ شول خو د يو هم اولاد ونۀ شو. بيا هغه ښځه هم مړه شوه. ۳۳ د قيامت په ورځ به دا ښځه د چا وی، ځکه چې ورسره اووۀ واړو وادۀ کړے وو؟" ۳۴ عيسیٰ هغوئ ته وفرمائيل، "تاسو په غلطه يئ او هم دغه وجه ده چې نۀ خو تاسو په کِتابِ مقدس پوهېږئ او نۀ د خُدائ پاک په قدرت. ۳۵ کله چې هغوئ د مړو نه بيا راژوندی شی نو هغوئ به يو بل سره وادۀ نۀ کوی. هغوئ به د آسمان د فرښتو په شان وی. ۳۶ خو قيامت په ورځې د مړو د بيا راژوندی کېدو په حقله، ولې تاسو د موسیٰ په کِتاب کښې هيڅ نۀ دی لوستی، د سوزېدونکی بوټی په قيصه کښې، چې خُدائ پاک ورته وفرمائيل، "زۀ د اِبراهيم خُدائ پاک، د اِسحاق خُدائ پاک، او د يعقوب خُدائ پاک يم"؟ ۳۷ خُدائ پاک د مړو خُدائ پاک نۀ دے بلکې د ژوندو خُدائ پاک دے. تاسو ډېر گمراه شوی يئ."

## اول حُکم

۲۸ بيا د شرعې په عالمانو کښې يو کس چې د دوئ دا بحث يې اورېدو او پوهه شو چې هغۀ دوئ ته څنګه ښۀ جواب ورکړو، نو راوړاندې شو. او هغۀ تربنه تپوس وکړو، "کوم يو حکم د ټولو نه اول دے؟" ۲۹ عيسیٰ جواب ورکړو، "اول حکم دا دے چې، "اے بنی اِسرائيلو واورئ. مالِک زمونږ مالِک خُدائ پاک واحد ذات دے. ۳۰ تاسو د مالِک خپل خُدائ پاک سره په پوره زړۀ سره، په پوره ځان، او په پوره عقل او په خپل ټول طاقت سره مينه ساتئ." ۳۱ دوېم دا دے چې، "د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مينه ساتئ." د دې حکمونو نه بل لوئ حکم نشته." ۳۲ نو د شرعې عالم هغۀ ته ووئيل، "شاباش اُستاذه، ډېر دې ښۀ وفرمائيل، تۀ رښتيا وائې چې خُدائ پاک يو دے او بې له هغۀ نه بل نشته. ۳۳ او د هغۀ سره په پوره زړۀ او په پوره پوهې او په خپل ټول طاقت سره مينه کوئ او د خپل ګاونډی سره د خپل ځان په شان مينه ساتئ، نو دا د بلې هرې يوې سوزېدونکې قربانۍ يا نذرانې نه ډېر غوره کار دے." ۳۴ هر کله چې عيسیٰ وليدل چې هغۀ څومره په پوهه سره جواب ورکړو نو هغۀ ورته وفرمائيل چې، "تۀ د خُدائ پاک د بادشاهۍ نه لرې نۀ يې." د دې نه پس بيا چا همت ونۀ کړو چې د عيسیٰ نه نور تپوسونه وکړی.

## د حضرت داؤد د زوئ په حقله سوال

۳۵ نو کله چې عيسیٰ د خُدائ په کور کښې تعليم ورکولو، داسې يې وفرمائيل، "نو د شرعې عالمان بيا دا څنګه وائی چې مسيح د داؤد زوئ دے؟ ۳۶ داؤد په خپله د روحُ القُدس د الهام په وسيله دا فرمائيلی دی چې، "مالِک زما مالِک ته وفرمائيل، زما ښی لاس ته تر هغې کښېنه چې ترڅو زۀ ستا دشمنان ستا د پښو لاندې نۀ کړم." ۳۷ داؤد په خپله هغۀ ته مالِک وائی، نو بيا هغه د داؤد زوئ څنګه کېدے شی؟" هلته ډېره ګڼه وه او ډېر په مينه يې د دۀ خبرې اورېدې.

## د شرعې عالمان ملامت کول

۳۸ عيسیٰ په خپل تعليم کښې دوئ ته وفرمائيل چې، "د شرعې د عالمانو نه ځان ساتئ څوک چې په لويو لويو چوغو کښې ګرځی او په بازارونو کښې په سلامونو ډېر خوشحالیږی ۳۹ او په عبادتخانو او په مېلمستياو کښې د مشرۍ په ځائ کښېناستل خوښوی. ۴۰ هم دا هغه خلق دی چې د کونډو جائيدادونه قبضه کوی او د رياکارۍ اوږدې اوږدې دُعاګانې کوی، دوئ به سخته سزا ومومی."

## د یوې کونډې ښځې شکرانه

(۴۱) عیسیٰ د خُدائ د کور خزانې ته مخامخ کښېناستو او دا ننداره یې کوله چې خلق په خزانه کښې پیسې څنګه اچوی.
ډېرو مالدارو خلقو ډیرې زیاتې پیسې واچولې. (۴۲) بیا یوه غریبه کونډه راغله او هغې د تانبې دوه سیکې په کښې واچولې
چې دواړه د یوې پیسې برابرې وې. (۴۳) بیا عیسیٰ خپل مریدان ځان ته راوبلل او ورته یې وفرمائیل، "زهٔ تاسو ته رښتیا وایم
چې دې غریبې کونډې د هر چا نه زیات واچول. (۴۴) ځکه چې هغه نورو چې څهٔ واچول د هغوئ سره د ضرورت نه سېوا
وُو، خو هغې د خپلې غریبۍ په مطابق چې څهٔ هم ورسره نهٔ وُو د خپلې ګزارې هر څهٔ یې واچول."

## د خُدائ پاک د کور د بربادۍ په باب کښې پیشګوئي

۱۳ (۱) څهٔ وخت چې عیسیٰ د خُدائ د کور نه په وتو وو نو د هغهٔ یو مرید ورته ووئیل، "وګوره، اُستاذه. څومره ښکلې
کانړې او عمارتونه دی." (۲) عیسیٰ هغهٔ ته وفرمائیل، "تهٔ دا لوئ لوئ عمارتونه وینې؟ په دې کښې به یو کانړے هم د بل دپاسه
پاتې نهٔ شی او ټول به ونړولے شی."

## د تکلیفونو شروع

(۳) او هر کله چې عیسیٰ د زیتُونو په غرهٔ د خُدائ کور ته مخامخ ناست وو نو پطروس، یعقوب، یوحنا او اندریاس ترې
ځانله تپوس وکړو، (۴) "مونږ ته ووایه چې دا کار به کله کیږی او د دې ټولو د پوره کېدو نښه به څهٔ وی؟" (۵) نو بیا
عیسیٰ دوئ ته وفرمائیل چې، "خیال کوئ چې څوک مو بې‌لارې نهٔ کړی. (۶) ځکه چې ډېر به زما په نوم راشی او دعویٰ به
کوی او وائی به چې زهٔ مسیح یم، او ډېر خلق به بې‌لارې کړی. (۷) هر کله چې تاسو د لرې او نزدې جنګونو خبر واورئ نو
مهٔ وارخطا کیږئ ځکه چې دا څیزونه به ضرور پېښیږی خو آخر وخت به لا نهٔ وی راغلے. (۸) قومونه به د قومونو سره په
جنګ وی، بادشاهۍ به د بادشاهۍ سره، په ډېرو ځایونو کښې به زلزلې او قحطونه راځی خو دا به د لنګون د دردونو شروع
وی. (۹) خو تاسو بېدار اوسئ. تاسو به عدالتونو ته حواله کیږئ، تاسو به په عبادتخانو کښې په کوړو وهلے کیږئ، او تاسو
به د حاکمانو او بادشاهانو په وړاندې زما په وجه پېش کولے شئ چې د هغوئ په وړاندې زما ګواهان شئ. (۱۰) خو د آخر
وخت نه اول به زما د زیری بیان ټولو قومونو ته وکړے شی. (۱۱) خو هر کله چې تاسو ونیولے شئ او عدالت ته بوتلے
شئ نو د اول نه تاسو مهٔ پریشانه کیږئ چې تاسو به څهٔ وایئ. خو هر کله چې وخت راشی نو هغه وخت چې څهٔ د وینا
دپاره درکړے شی هغه وایئ، ځکه چې دا به ستاسو خبرې نهٔ وی بلکې ستاسو په ژبه به روحُ القُدس ګویا وی. (۱۲) ورور به
د ورور د مرګ جاسوس شی او پلار به د زوئ، او اولاد به د مور پلار خلاف شی او مرګ ته به یې حواله کوی. (۱۳) ټول به
زما د نوم په وجه تاسو نه نفرت کوی، خو هغه څوک چې تر آخره قائم پاتې شی هغه به بچ شی.

## لوئ مصیبت

(۱۴) هر کله چې تاسو ووینئ چې، هغه پلیت بُت چې تباهی راولی په هغه ځائ کښې ولاړ دے چرته چې نهٔ دے پکار، نو
لوستونکی دې پوهه شی، نو هغه څوک چې په یهودیه کښې دی غرونو ته دې وتښتی. (۱۵) کهٔ څوک د چت دپاسه وی هغه
دې کله هم کور ته ښکته نهٔ راکوزیږی چې څهٔ ترې وباسی. (۱۶) کهٔ څوک په پټی کښې وی نو هغه دې د خپلې څُوغې

راخستلو دپاره نۀ واپس کیږی. ۱۷ افسوس دے په هغه ښځو چې په هغه ورځو کښې اُمیدوارې وی او په هغوئ چې بچو له
سینه ورکوی. ۱۸ دُعا کوئ چې دا واقعه په ژمی کښې پېښه نۀ شی. ۱۹ ځکه چې هغه به ډیرې د بد حالۍ ورځې وی.
خُدائ پاک چې دا دُنیا پیدا کړې ده لا تر اوسه داسې وخت نۀ دے راغلے او نۀ به بیا چرته راشی. ۲۰ کۀ چرې مالِک
خُدائ هغه د تکلیف ورځې لنډې کړې نۀ وے نو هیڅ یو بشر به هم بچ شوے نۀ وے، خو د خپلو غوره کړو د خاطره هغۀ دا
ورځې لنډې کړې. ۲۱ او کۀ بیا تاسو ته په دغه وخت کښې څوک دا ووائی چې وګورئ، مسیح دلته دے یا هلته دے، نو
باور پرې مۀ کوئ. ۲۲ دروغژن مسیحیان او دروغژن نبیان به راښکاره شی او لوئې معجزې او نښې به ښکاره کوی، او کۀ
ممکن وی نو غوره شوی خلق به بې‌لارې کړی. ۲۳ خو تاسو خبردار اوسئ، ما تاسو د اول نه په دې خبر کړئ.

## د اِبن آدم راتلل

۲۴ خو په هغه ورځو کښې د دې تنګسیا نه پس به نمر تور شی او سپوږمۍ به رڼا نۀ کوی. ۲۵ ستوری به د آسمان نه
راپرېوځی او آسمانی طاقتونه به ولړزولے شی. ۲۶ بیا به هغوئ ووینی چې اِبن آدم به په وریځو کښې په لوئ قدرت او ډېر
شان او شوکت سره راځی. ۲۷ او هغه به فرښتې ولېږی او د آسمان د څلورو طرفونو نه او د دُنیا د آخری حدونو نه به
خپل غوره کړی خلق راټول کړی.

## د اینځر د ونې نه سبق

۲۸ د اینځر د ونې نه سبق زده کړئ. هر کله چې د هغې نازکې څانګې غوټۍ ونیسی او پاڼې وکړی نو تاسو پوهه شئ چې
اوړے په راتلو دے. ۲۹ هم دغه شان چې تاسو دا ټولې نښې ووینئ نو تاسو پوهه شئ چې هغه ډېر نزدې او په دروازه کښې
ولاړ دے. ۳۰ زۀ تاسو ته رښتیا وایم چې دا موجوده پیړۍ به تر هغې ختمه نۀ شی ترڅو چې دا ټولې خبرې ونۀ شی. ۳۱
زمکه او آسمان به فنا شی خو زما کلام به هیچرې فنا نۀ شی.

## نامعلومه ورځ او وخت

۳۲ خو د هغې ورځې او ساعت هیچا ته پته نشته، نۀ خو د آسمان فرښتو ته پته شته او نۀ زوئ ته، خو صرف زما پلار پرې
خبر دے. ۳۳ خبردار اوسئ، ویښ اوسئ. تاسو د دې نه خبر نۀ یئ چې هغه وخت به کله راځی. ۳۴ د دې مثال د هغه
سړی په شان دے چې د کوره لرې روان وی او څۀ وخت چې خپل کور نه ځی نو خپلو نوکرانو ته اختیار ورکړی چې هر
یو دې خپل کار کوی او څوکیدار ته هم حکم ورکړی چې بېدار اوسی. ۳۵ نو بیا تاسو بېدار اوسئ ځکه چې تاسو په دې نۀ
یئ خبر چې د کور مالِک به کله راځی، ماښام کۀ په نیمه شپه، په چرګ بانګ کۀ سحر په خره. ۳۶ کۀ چرې هغه ناګهانه
راشی نو چې هغه مو اودۀ لاندې نۀ کړی. ۳۷ او زۀ چې څۀ تاسو ته وایم نو هغه ټولو ته وایم چې بېدار اوسئ.“

## د حضرت عیسیٰ د قتلولو سازش

۱۴ ۱ د فسح او د پتیرې روټۍ اختر ته دوه ورځې پاتې وې او مشرانو اِمامانو او د شرعې عالمانو داسې طریقه لټوله
چې عیسیٰ په پټه ونیسی او وې وژنی. ۲ هغوئ ووئیل چې، ”دا دې د اختر په ورځو کښې نۀ وی، هسې نه چې په خلقو
کښې بلوا جوړه شی.“

## په بيتِعنياه کښې د حضرت عيسیٰ په سر عطر اچول

٣ عيسیٰ د شمعون جذامي په کور کښې په بيتِعنياه کښې وو. کله چې هغه روټۍ ته کښېناستو، نو يوه ښځه راغله او ډېر قيمتی خالص عطر يې د مرمرو په عطردان کښې راوړل. هغې د عطردان سر مات کړو او د هغهٔ په سر يې عطر واچول.
٤ په حاضر مجلس کښې ځينې کسانو په غصه کښې ووئيل چې، "دا قيمتی عطر ولې ضائع شول؟ ٥ ځکه چې دا عطر خو به په څهٔ دپاسه د درېو سوو دينارو خرڅ شوے وے او پېسې به يې خوارانو له ورکړے شوے وے." نو هغوئ هغې ته غصه وکړه. ٦ خو عيسیٰ ورته وفرمائيل، "دا پرېږدئ، تاسو دا ښځه ولې تنگوئ؟ هغې زما ډېر ښهٔ خِدمت وکړو. ٧ ځکه چې غريبانان خو به تل تاسو سره وی او هر کله چې تاسو غواړئ د هغوئ مدد کولے شئ خو زهٔ به درسره تل نهٔ يم.
٨ هغې نه چې څهٔ کېدے شول، هغه يې وکړل. هغې د ښخولو نه وړاندې زما په بدن عطر واچول. ٩ زهٔ تاسو ته رښتيا وايم چې هر چرته چې په دُنيا کښې دا زېرے خورېږی نو څهٔ چې هغې وکړل نو دا به هم په کښې يادېږی."

## د يهوداه اِسکريوتی په حضرت عيسیٰ مُخبری کولو ته راضی کېدل

١٠ نو بيا يهوداه اِسکريوتی چې په هغه دولسو مريدانو کښې يو وو، مشرانو اِمامانو له لاړو چې د عيسیٰ مخبری وکړی.
١١ چې هغوئ د هغهٔ د غرض نه خبر شول نو هغوئ ډېر خوشحاله شول او د هغهٔ سره يې د پېسو ورکولو وعده وکړه. د هغه وخت نه پس هغه د مخبری د موقعې په تلاش کښې وو.

## مريدانو سره فسح خوړل

١٢ د پتيرې روټۍ د اختر په اوله ورځ چې هغوئ د فسح گډورے قربانولو، د عيسیٰ مريدانو د هغهٔ نه تپوس وکړو چې، "ستا کوم ځائ خوښ دے چې مونږ په کښې تا له د فسح خوراک تيار کړُو؟" ١٣ نو هغهٔ خپل دوه مريدان د دې هداياتو سره ولېږل، "ښار ته لاړ شئ، يو سړے به وويني چې د اوبو منگے به وړی، په هغهٔ پسې لاړ شئ، ١٤ او هغه چې کوم کور ته ننوځی نو د هغه کور مالِک له دا پېغام ورکړئ چې، اُستاذ وائی چې زما او زما د مريدانو دپاره د فسح د خوراک دپاره د مېلمستيا کومه کوټه مقرره شوې ده؟ ١٥ هغه به تاسو ته يوه لويه تياره کړے شوې بالاخانه وښائی، زمونږ دپاره هلته د فسح تيارے وکړئ." ١٦ بيا مريدان روان شول او چې ښار ته دننه شول نو هغوئ هر څهٔ هغه شان وموندل څنگه چې هغهٔ ورته فرمائيلی وُو، نو هغوئ د فسح د خوراک تيارے وکړلو. ١٧ کله چې ماښام شو نو هغه د دولسو مريدانو سره راغلو.
١٨ څهٔ وخت چې هغوئ روټۍ ته کښېناستل نو عيسیٰ وفرمائيل، "زهٔ درته رښتيا وايم چې په تاسو کښې به يو زما مُخبری کوی، هغه څوک چې ما سره روټۍ خوری." ١٩ په ډېرې پرېشانۍ سره هغوئ يو يو ورته ووئيل، "رښتيا زهٔ خو به نهٔ يم؟"
٢٠ هغهٔ ورته وفرمائيل چې، "په تاسو دولسو کښې هغه يو دے څوک چې ما سره په دې تالی کښې لاس ښکته کوی. ٢١ د اِبن آدم په حق کښې چې په صحيفو کښې څهٔ راغلی دی هغه به په هغه لاره ځی، خو افسوس په هغه سړی دے چې په اِبن آدم مُخبری کوی. کهٔ هغه سړے پېدا شوے نهٔ وے نو دا به ډېره ښهٔ وه."

## د عشاء ربانۍ مقررول

٢٢ د خوراک په وخت عيسیٰ يوه روټۍ راواخسته، شُکر يې پرې وکړو او ماته يې کړه. په هغوئ يې ووېشله او وې فرمائيل، "دا واخلئ، دا زما بدن دے." ٢٣ بيا هغهٔ يوه پيالۍ راواخسته او د خُدائ پاک شُکر يې پرې وويستو او هغوئ له يې ورکړه او هغوئ ټولو ترې وڅښل. ٢٤ او بيا هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل چې، "دا زما وينه ده چې د خُدائ پاک او د

انسانانو تر مینځ د لوظ نښه ده چې د ډېرو خلقو دپاره توئيږی. ۲۵ زۀ تاسو ته رښتيا وايم چې د انګورو رس به زۀ بيا تر هغې ورځې پورې ونۀ څښم ترڅو چې زۀ د خُدائ پاک په بادشاهۍ کښې يې تازه ونۀ څښم.“ ۲۶ د حمد وئيلو نه پس دوئ د زيتُونو غرۀ ته لاړل.

## د پطروس د اِنکار پېشګوئي

۲۷ او عيسىٰ هغوئ ته وفرمائيل، ”تاسو ټول به تيندک وخورئ ځکه چې دا ليکلے شوی دی چې، ”زۀ به شپون ووهم او ګډې به يې خورې ورې شی.“ ۲۸ خو هر کله چې زۀ بيا ژوندے پاڅولے شم نو زۀ به ستاسو نه وړاندې ګليل ته لاړ شم.“
۲۹ پطروس جواب ورکړو، ”کۀ چرې دوئ ټول تيندک وخوری، خو زۀ به هيچرې تيندک ونۀ خورم.“ ۳۰ عيسىٰ هغۀ ته وفرمائيل، ”زۀ تا ته رښتيا وايم چې تۀ به نن په هم دې شپه د دوېم چرګ بانګ وئيلو نه وړاندې درې ځله زما نه اِنکاری شې.“ ۳۱ خو هغۀ په دې خبره زور ورکړو، ”کۀ زۀ تا سره مړ هم شم خو ستا نه به هيچرې اِنکاری نۀ شم.“ او هغوئ ټولو هم دغه شان ووئيل.

## په ګيتسمنی کښې دُعا کول

۳۲ کله چې هغوئ ګيتسمنی نومې ځائ ته ورسېدل نو عيسىٰ خپلو مريدانو ته وفرمائيل، ”ترڅو چې زۀ دُعا کوم تاسو دلته کښېنئ.“ ۳۳ او هغۀ بيا د ځان سره پطروس، يعقوب او يوحنا بوتلل، نو ډېر غمژن شو او پرېشانی پرې راغله. ۳۴ او هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”زما زړۀ د غمه چوی او مرګ ته نزدې شوے يم. دلته ايسار شئ او ما سره بېدار اوسئ.“ ۳۵ بيا هغه يو څو قدمه لاړو، او په زمکه پړمخې پرېوتو او دا دُعا يې وغوښتله، ”کۀ دا کېدے شی نو دا سخت وخت دې له ما نه لرې کړے شی.“ ۳۶ هغۀ وفرمائيل، ”ابا،“ يعنې پلاره، ”ستا دپاره هر څۀ ممکن دی. دا د تکليف پياله زما نه اخوا کړه، خو زما مرضی نه بلکې ستا مرضی دې پوره شی.“ ۳۷ هغه واپس راغلو او هغوئ يې اودۀ ومونډل. نو هغۀ پطروس ته وفرمائيل، ”شمعونه، اودۀ يې څۀ؟ ولې تاسو ما سره يوه ګينټه قدرې هم بېدار نۀ شوئ پاتې کېدے؟ ۳۸ بېدار شئ، او دُعا وکړئ چې د آزمېښت په وخت ناکامه نۀ شئ. ځکه چې روح خو تيار دے خو بدن کمزورے دے.“ ۳۹ يو ځل بيا هغه لاړو او هم هغه شان دُعا يې وغوښته. ۴۰ چې يو ځل بيا هغه واپس راغلو نو هغوئ يې اودۀ ومونډل ځکه چې د هغوئ سترګې درنې شوې وې، او هغوئ په دې نۀ پوهېدل چې هغۀ ته څۀ جواب ورکړی. ۴۱ درېم ځل هغه راغلو او ورته يې وفرمائيل چې، ”ولې تاسو لا هغه شان اودۀ يئ، هغه شان لا آرام کوئ؟ بس، هغه وخت راغلو چې اِبن آدم د ګناهګارانو لاسونو ته وسپارلے شی. ۴۲ پاڅئ، ځئ چې ځو. زما مُخبر نزدې راغلے دے.“

## په حضرت عيسىٰ جاسوسی او د هغۀ ګرفتاری

۴۳ عيسىٰ چې لا خبرې کولې نو سمدستی يهوداه چې په دولسو مريدانو کښې يو وو راغلو، او هغۀ سره ډېر خلق چې تُورې او کوتکې په لاس وُو راښکاره شول. هغوئ مشرانو اِمامانو، د شرعې عالمانو او اولسی مشرانو رالېږلی وُو. ۴۴ جاسوس هغوئ ته دا نښه ښودلې وه، ”څوک چې زۀ ښکل کړم هم هغه دے، وې نيسئ او د ځان سره يې په حفاظت بوځئ.“ ۴۵ کله چې دے هغه ځائ ته راورسېدو نو هغه سمدستی وروړاندې شو او عيسىٰ ته يې ووئيل، ”اُستاذه.“ او ښکل يې کړو. ۴۶ بيا هغوئ عيسىٰ ونيولو او ګرفتار يې کړو. ۴۷ په هغه خلقو کښې چې ولاړ وُو يو کس خپله تُوره راوويستله او د مشر اِمام په نوکر يې ګزار وکړو او د هغۀ غوږ يې پرې کړو. ۴۸ بيا عيسىٰ وفرمائيل، ”ولې تاسو ما ډاکو ګڼئ چې د تُورو او کوتکو

سره زما په نیولو پسې راغلی یئ؟ ۴۹ زهٔ هره ورځ تاسو سره د خُدائ په کور کښې وم او تعلیم مې ورکولو خو تاسو ما له
لاس نهٔ راوړلو. خو دا ځکه وشول چې د نبیانو صحیفې پوره شی.“ ۵۰ نو بیا ټولو مریدانو هغه یواځې پرېښودو او ترې
وتښتېدل. ۵۱ ځوک چې ورسره ؤو په هغوئ کښې یو ځوان وو چې د کتان د څادر نه یې لنګ وهلے وو. هغوئ د نیولو
کوشش وکړو، ۵۲ خو هغهٔ د کتان څادر پرېښودلو او لغړ وتښتېدلو.

## د حضرت عیسیٰ د جرګې په مخکښې پېشی

۵۳ بیا هغوئ عیسیٰ د مشر اِمام کور ته بوتلو چرته چې مشران اِمامان، د شرعې عالمان او اولسی مشران راټول ؤو. ۵۴
پطروس ورپسې په څهٔ فاصله کښې وروستو روان وو، نو کله چې د مشر اِمام د کور صحن ته ورسېدو، نو ښخ ورغلو او
هلته هغه د سپاهیانو سره کښېناستو او اور ته یې ځان تودولو. ۵۵ مشرانو اِمامانو او ټولې جرګې دا کوشش کولو چې د
عیسیٰ په خلاف داسې څهٔ ګواهی پیدا کړی چې د مرګ حُکم پرې وکړی خو داسې ګواهی یې پیدا نهٔ کړے شوه. ۵۶ ډېرو د
هغهٔ په خلاف د دروغو ګواهی وکړله خو د هغوئ بیان د یو بل سره سمون نهٔ خوړلو. ۵۷ نو بیا ځینې کسان پاڅېدل او د
هغهٔ په خلاف یې داسې د دروغو ګواهی وکړه چې، ۵۸ ”مونږ د دهٔ نه دا اورېدلی دی چې، زهٔ به دا د خُدائ کور ورانوم چې
بنی آدمو ودان کړے دے او په دریو ورځو کښې به بل داسې ودان کړم چې هغه به د بنی آدم په لاسونو نهٔ وی جوړ شوے.“
۵۹ خو په هم دې خبره د هغوئ په ګواهئ کښې یو والے نهٔ وو. ۶۰ نو بیا مشر اِمام د هغوئ په وړاندې پاڅېدو او عیسیٰ
نه یې تپوس وکړو چې، ”ولې تا سره جواب نشته؟ دا اِلزامونه د څهٔ دی چې هغوئ ستا خلاف ګواهی ورکوی؟“ ۶۱ خو
هغه چپ پاتې شو او هیڅ جواب یې ورنهٔ کړو. بیا مشر اِمام ترې تپوس وکړو، ”ولې تهٔ مسیح، د مبارک ذات زوئ یې څهٔ؟“
۶۲ عیسیٰ وفرمائیل چې، ”زهٔ یم، او تاسو به اِبن آدم د خُدائ پاک ښی لاس ته سره د اختیار ناست او د آسمان په وریځو
کښې په راتلو ووینئ.“ ۶۳ په دې وینا مشر اِمام خپله چُوغه وشلوله او وې وئیل چې، ”دے خو کُفر وائی. د دې ګستاخئ
نه پس هم د نورو ګواهانو حاجت شته څهٔ؟ ۶۴ تاسو په خپله دا کُفر واورېدو ستاسو فیصله څهٔ ده؟“ هغوئ جواب ورکړو
چې، ”دے مجرم دے او د مرګ جوګه دے.“ ۶۵ بیا ځینو په هغهٔ وتُوکل او سترګې یې ورته پټې کړې او په سوکونو یې
وهلو او جر یې ورپسې وویستلو، ”وایه کنه تهٔ چا ووهلې.“ او سپاهیانو هم هغه د بوتلو په وخت کښې په څپېړو ووهلو.

## د پطروس اِنکار کول

۶۶ په دې دوران کښې پطروس لا هغه شان په صحن کښې وو. د مشر اِمام یوه خِدمتګاره په هغه لاره تېرېدله. ۶۷ کله
چې هغې پطروس اور ته په تودېدو ولیدو، نو هغې هغهٔ ته وکتل او وې وئیل، ”تهٔ خو هم د دې عیسیٰ ناصری سره وې.“ ۶۸
خو هغه منکر شو او وې وئیل، ”ما ته هیڅ پته نشته، چې دا تهٔ لا څهٔ وې.“ بیا هغه بهر ډیوډئ ته لاړو په هم دې وخت چرګ
بانګ ووئیلو. ۶۹ او هغې خِدمتګارې هغه هلته بیا ولیدو او ولاړو خلقو ته یې ووئیل، ”دے د هغهٔ ملګرے دے.“ ۷۰ خو
هغه بیا منکر شو. لږه شیبه وروستو څوک چې هلته ولاړ ؤو پطروس ته یې بیا ووئیل، ”بېشکه تهٔ د هغوئ نه یو یې ځکه چې
تهٔ هم د ګلیل یې.“ ۷۱ په دې هغه په ښیرو سر شو او په قسم سره یې ووئیل، ”تاسو چې د کوم سړی ذکر کوئ زهٔ هغه نهٔ
پېژنم.“ ۷۲ بیا چرګ په دویم ځل بانګ ووئیلو او پطروس ته رایاد شُو چې عیسیٰ هغهٔ ته فرمائیلی ؤو چې، ”د چرګ د دوه
ځله بانګ وئیلو نه وړاندې به تهٔ زما نه درې ځله اِنکاری شې.“ نو هغه بیا ډېر خفه شو او په ژړا شو.

## حضرت عيسىٰ د پيلاطوس په وړاندې

**١٥** ﴿١﴾ هر کله چې سحر شو نو مشرانو اِمامانو، د شرعې عالمانو او اولسى مشرانو په صلاح دا فيصله وکړه او عيسىٰ
يې وتړلو، بيا يې هغه روان کړو، او پيلاطوس ته يې حواله کړو. ﴿٢﴾ پيلاطوس د هغهٔ نه تپوس وکړو چې، ”ولې تهٔ د يهوديانو
بادشاه يې څهٔ؟“ هغهٔ جواب ورکړو، ”تا په خپله ووې.“ ﴿٣﴾ نو بيا مشرانو اِمامانو په هغهٔ ډېر اِلزامونه ولګول. ﴿٤﴾ او
پيلاطوس د هغهٔ نه بيا تپوس وکړو، ”ولې تا سره د خپلې صفايئ دپاره څهٔ جواب نشته څهٔ؟ تهٔ ګورې چې دوئ په تا څومره
اِلزامونه لګوى.“ ﴿٥﴾ خو پيلاطوس په دې خبره حېران شو چې عيسىٰ بل هيڅ جواب ورنهٔ کړو.

## په حضرت عيسىٰ باندې د مرګ حکم کول

﴿٦﴾ د اختر په ورځ د ګورنر دا دستور وو چې د خلقو په خوښه به يې يو قېدى آزادولو. ﴿٧﴾ په دغه وخت کښې برابا نومې
يو مجرم د باغيانو سره په قېد کښې وو چې د بغاوت په وخت يې قتل کړے وو. ﴿٨﴾ کله چې خلق د دستور په مطابق
خواست له راغلل، ﴿٩﴾ نو پيلاطوس جواب ورکړو چې، ”ولې تاسو دا غواړئ چې زهٔ د يهوديانو بادشاه تاسو ته آزاد کړم؟“
﴿١٠﴾ ځکه چې هغهٔ ته پته وه چې مشرانو اِمامانو عيسىٰ د حسد په وجه دهٔ ته حواله کړے وو. ﴿١١﴾ خو مشرانو اِمامانو خلق
ولمسول چې هغهٔ تهووايئ چې، ”عيسىٰ نه بلکې برابا را آزاد کړه.“ ﴿١٢﴾ پيلاطوس بيا هغوئ ته ووئيل چې، ”کوم سړى ته
چې تاسو د يهوديانو بادشاه وايئ، د هغهٔ سره بيا څهٔ وکړم؟“ ﴿١٣﴾ هغوئ چغې کړې، ”دے په سولئ راځوړند کړه.“ ﴿١٤﴾
پيلاطوس تپوس وکړو چې، ”ولې، هغهٔ څهٔ بد کار کړے دے؟“ خو هغوئ نورې هم چغې تېزې کړې، ”په سولئ يې کړه.“
﴿١٥﴾ نو پيلاطوس د خلقو د تسلئ دپاره برابا آزاد کړو او عيسىٰ يې په کوړو ووهلو او په سولئ کولو ته يې ورکړو.

## د سپاهيانو د حضرت عيسىٰ پورې ټوقې کول

﴿١٦﴾ بيا د ګورنر سپاهيانو عيسىٰ قلعې ته بوتلو او ټوله فوجى دسته يې راجمع کړه. ﴿١٧﴾ هغوئ عيسىٰ ته کاسنى چُوغه
واغوسته او د ازغو تاج يې جوړ کړو او ورته يې په سر کړو. ﴿١٨﴾ او بيا يې هغهٔ ته په دې وينا سره سلامى کوله، ”اے د
يهوديانو بادشاه سلامت.“ ﴿١٩﴾ او هغوئ هغه په بېنت په سر وهلو او توکانې يې پرې تُوکل او بيا هغهٔ ته په ګوډو شول او د
ټوقو سجدې يې ورته وکړلې. ﴿٢٠﴾ او چې ټوقې يې بس کړې نو کاسنى چُوغه يې ترې وويستله او خپلې جامې يې
ورواغوستلې. بيا يې هغه بهر په سولئ کولو له بوتلو.

## د حضرت عيسىٰ په سولئ کول

﴿٢١﴾ د سکندر او د روفوس پلار شمعون څوک چې د کرينى اوسېدونکے وو هغه د کلى نه په هغه لاره راروان وو نو هغوئ
هغه په بيګار ونيولو چې د عيسىٰ سولئ يوسى. ﴿٢٢﴾ هغوئ عيسىٰ ګولګتا نومې ځائ ته راوستو چې مطلب يې د کوپړو ځائ
دے. ﴿٢٣﴾ هغهٔ ته يې د مُر چېړ سره ګډ کړى مے ورکول خو هغهٔ ونهٔ څښل. ﴿٢٤﴾ بيا هغوئ هغه په سولئ وخېژولو او هر يو
د خپل حق معلومولو دپاره د هغهٔ په جامو پچه واچوله او په خپلو کښې يې تقسيم کړې. ﴿٢٥﴾ د سولئ کولو وخت د سحر
نهٔ بجې وو. ﴿٢٦﴾ او د هغهٔ خلاف د اِلزام په تخته څهٔ داسې ليکلے وو، ”د يهوديانو بادشاه.“ ﴿٢٧﴾-﴿٢٨﴾ هغوئ دوه ډاکوان هم
د هغهٔ سره په سولئ کړى وُو، يو يې د هغهٔ ښى او بل يې د هغهٔ ګس لاس ته راځوړند کړے وو. ﴿٢٩﴾ څوک چې په لاره
تېرېدل نو هغهٔ پورې يې مسخرې کولې او سرونه به يې خوځول او چغې سورې به يې وهلې، ”اوس خپل ځان ته وګوره، تهٔ

به د خُدائ دا کور ورانوې او بيا به يې په درېو ورځو کښې جوړوې. ۳۰ ښه نو بيا خپل ځان بچ کړه، او د دې سولۍ نه
راکوز شه.“ ۳۱ دغه شان مشرانو اِمامانو او د شرعي عالمانو هم په خپلو کښې ورپورې مسخرې کولې، او وئيل يې چې،
”هغۀ خو نور خلق بچ کول خو خپل ځان نۀ شی بچ کولے. ۳۲ پرېږدئ چې مسيح، دا د بنی اِسرائيلو بادشاه، دې اوس د
سولۍ نه راکوز شی، چې مونږ دا ووينو او ايمان پرې راوړو.“ تر دې چې د دۀ سره په سولۍ شوو مجرمانو هم دۀ ته سپکې
سپورې وئيلې.

## د حضرت عيسیٰ وفات کېدل

۳۳ د غرمې په وخت په ټوله زمکه تيارۀ راخوره شوه او د تېر ماسپښين تر درېو بجو پورې وه. ۳۴ او درې بجې عيسیٰ په
زوره چغې کړې چې، ”ايلی، ايلی، لما شبقتنی؟“ چې ترجمه يې دا ده، ”اے زما خُدايه پاکه، اے زما خُدايه، زۀ دې ولې
پرېښودلم؟“ ۳۵ ځينې ولاړو خلقو چې دا واورېدل نو وې وئيل چې، ”وګورئ، دے اوس الياس ته نعرې وهی.“ ۳۶ نو بيا
يو کس ورمنډه کړه، يو اسفنج يې د سرکې نه ډک کړو او د هغۀ شونډو ته يې د يوې چوکې په سر ونيولو چې وې څښې او
هغۀ ووئيل، ”اوس به وګورو چې الياس راشی او دے راکوز کړی.“ ۳۷ بيا عيسیٰ يوه تېزه کريکه وويسته او ساه يې
ورکړه. ۳۸ او د خُدائ د کور پرده د سر نه تر ښيخه پورې په مينځ دوه شوه. ۳۹ او کوم صوبه دار چې هغۀ ته مخامخ ولاړ
وو نو چې هغۀ وليدل چې هغۀ څنګه ساه ورکړه نو وې وئيل، ”بېشکه چې دا سړے د خُدائ پاک زوئ وو.“ ۴۰ يو څو
ښځې هم هلته موجود وې چې د لرې نه يې تماشه کوله. په هغوئ کښې مريم مګدلينې، د کشر يعقوب چې يوسيس مور مريم
چې سلومې وې. ۴۱ نو کله چې عيسیٰ په ګليل کښې وو نو هم دې ښځو د هغۀ تابعداری کړې وه او د هغۀ خِدمت يې کړے
وو او په دوئ کښې نورې ښځې هم وې څوک چې د هغۀ سره يروشلم ته راغلې وې.

## د حضرت عيسیٰ ښخول

۴۲ دا هر څۀ د جمعې په ورځ وشُو، يعنې د تيارۍ په ورځ، د سبت نه يوه ورځ وړاندې. نو چې ماښام رانزدې شو، ۴۳ د
ارمتيه يوسف نومې يو سړے راغلو څوک چې د جرګې يو عزتمند کس وو او هغه په خپله ډېر اُميد سره د خُدائ پاک د
بادشاهۍ د راتلو په اِنتظار وو، نو په زړۀ ورتيا سره پيلاطوس له ورغلو او د عيسیٰ لاش يې ترې وغوښتو. ۴۴ پيلاطوس
حېران شو چې هغه مړ شوے هم دے، نو هغۀ صوبه دار راوغوښتو او تپوس يې ترې وکړو چې، ”هغه مړ دے او کۀ نه؟“
۴۵ کله چې هغه د صوبه دار نه خبر شو چې هغه مړ دے نو هغۀ يوسف له اجازت ورکړو چې لاش يې يوسی. ۴۶ بيا
يوسف د کتان کپړه په بيعه واخسته او د هغۀ لاش يې د سولۍ نه راکوز کړو او کفن يې کړو او په کنستلے شوی قبر کښې
يې کېښودو. او يو لوئ کاڼے يې د قبر خولې ته راورغړولو. ۴۷ او مريم مګدلينې او د يوسيس مور مريم هغه ځائ وليدو په
کوم ځائ کښې چې يې هغه کېښودو.

## د حضرت عيسیٰ بيا ژوندی کېدل

۱۶ ۱ هر کله چې د سبت ورځ تېره شوه، مريم مګدلينې، د يعقوب مور مريم او سلومې خوشبوداره تېل واخستل او
نيت يې وکړو چې ورشی او د عيسیٰ په لاش يې واچوی. ۲ او د اِتوار په ورځ سحر وختی د نمر راختو نه لږ وروستو
هغوئ قبر له ورغلې. ۳ په لاره هغوئ يو بل ته ووئيل چې، ”مونږ ته به د غار د خولې نه کاڼے څوک ورغړوی؟“ ۴ خو

چې هغوئ په غور سره وکتل نو څهٔ ګوري چې کاڼے د مخکښې نه رغړېدلے وو اګر چې دغه کاڼے ډېر غټ وو. ۵
هغوئ چې قبر ته ورننوتلې، نو يو ځوان يې وليدو چې ښى اړخ ته ناست وو او سپينه چُوغه يې اچولې وه، او هغوئ اريانې
دريانې شوې. ۶ خو فرښتې هغوئ ته وفرمائيل، "مهٔ يرېږئ، تاسو د عيسىٰ ناصرى ليدو له راغلى يئ څوک چې په سولى
کړے شوے وو. هغه بيا پورته کړے شوے دے، هغه دلته نشته. وګورئ، دا هغه ځائ دے چرته چې يې هغه اېښودے وو.
۷ خو لاړې شئ، د هغهٔ مريدانو او پطروس ته دا خبر ورسوئ چې هغه ستاسو نه وړاندې ګليل ته روان دے، تاسو به هغه
هلته ووينئ لکه څنګه چې هغهٔ تاسو ته فرمائيلى وُو." ۸ نو هغوئ بهر ووتلې او د قبر نه په تېښته لاړې ځکه چې هغوئ
يرې او ډېر هيبت اخستې وې. هغوئ هيچا ته هم غږ ونهٔ کړو ځکه چې هغوئ يرېدلې.

## د حضرت عيسىٰ مريم مګدلينې ته څرګندېدل

۹ کله چې عيسىٰ د اِتوار په سحر د مړو نه راژوندے شو نو اول مريم مګدلينې ته ښکاره شو د چا نه چې هغهٔ اووهٔ پيريان
لرې کړى وُو. ۱۰ هغه لاړه او د هغهٔ مريدانو له ورغله چې ژړا انګولا يې کوله او هغوئ ته يې ټوله قيصه بيان کړه. ۱۱ خو
چې هغوئ دا واورېدل چې هغه بيا ژوندے شوے دے او هغې ليدلے دے نو باور يې پرې ونهٔ کړو.

## د حضرت عيسىٰ خپلو مريدانو ته څرګندېدل

۱۲ پس له هغې نه هغه په يو بل شکل په دوو مريدانو راپېښ شو څوک چې بهر پټو ته په لاره روان وُو. ۱۳ هغوئ واپس
لاړل او نورو مريدانو ته يې ووئيل خو هغوئ پرې يقين ونهٔ کړو. ۱۴ وروستو هغه يوولسو مريدانو ته هغه وخت ښکاره شو
چې هغوئ روټۍ ته ناست وُو، او هغهٔ هغوئ په خپلو بېيقينۍ او سختو زړونو ملامته کړل ځکه چې هغوئ د هغه خلقو په
وينا يقين نهٔ وو کړے چا چې هغه بيا ژوندے ليدلے وو. ۱۵ بيا هغهٔ هغوئ ته وفرمائيل، "ټولې دُنيا ته لاړ شئ او زما د
زيرى وعظ ټول مخلوق ته وکړئ. ۱۶ هر څوک چې پرې ايمان راوړى او بپتسمه واخلى نو هغه به خلاصون بيامومى، او
هر څوک چې پرې ايمان رانهٔ وړى هغه به مجرم شى. ۱۷ څوک چې ايمان راوړى دا معجزې به ترېنه څرګندېږى چې زما
په نوم به پيريان شړى او په نورو ژبو به خبرې کوى. ۱۸ کهٔ هغوئ مارانو له لاس وروړى يا زهر وخورى نو هغوئ ته به
ضرر نهٔ رسى، او په کومو بيمارانو چې هغوئ لاس کېږدى، هغوئ به روغ شى."

## د حضرت عيسىٰ آسمان ته ختل

۱۹ هغوئ سره د خبرو کولو نه پس مالِک عيسىٰ آسمان ته پورته کړے شو او هغه د خُدائ پاک ښى طرف ته کښېناستو.
۲۰ نو بيا هغوئ بهر ووتل او هر چرته يې کلام بيانولو، او مالِک د هغوئ سره کار کولو او د هغه معجزو په وسيله کومې
چې هغهٔ ښودلې کلام صحيح ثابتولو.

pashtobibles.org © يوسفزى ۲۰۱۹